**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب، د ښوونكو د روزنې
او د ساينس د مركز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
كتابونو د تاليف لوی رياست

# ټولنيز لوستونه

## پنځم ټولگی



Ketabton.com

د چاپ کال: ١٣٨٩ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

TM TM TM TM

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري.
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سرغړونکو سره يې قانوني چلن کيږي.

TM TM TM TM

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# ټولنيز لوستونه

## پنځم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۸۹هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

## لیکوالان:

- الحاج سر مؤلف نجیب الله " امین افغان" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت غړی
- د سرمؤلف مرستیال عبدالغیاث غوري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو غړی.
- د سر مؤلف مرستیاله شکیلا "حبیب رحیمي" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو غړې.
- مؤلف شیر محمد رونقي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو غړی.
- د مؤلف مرستیاله فایقه کوهستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو غړې.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## پوهنې وزارت:

- د مولف مرستیال محمد حسین احمد زی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت غړی.
- د مؤلف مرستیال سید حبیب الله ولیزاده د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت غړی.
- د سرمؤلف مرستیال میر عبید الله فاضل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت غړی.
- الحاج عبدالاحد غزنیوال د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت غړی.
- معاون مؤلف محمد انور د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت غړی.
- معاون مؤلف رحمن عنایت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت غړی.
- د سر مؤلف مرستیال محمد افضل (ژباړونکی).
- سیف الرحمن آشنا د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنت ادیتور.
- سید انور "میچنخیل" (رسام).

### د محتویاتو، دیني، فرهنګي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

- دوکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمیټه:

**- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین، دکمېټې رئیس**

**_ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.**

**_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.**

**کمپوز او ډیزاین: عنایت الله "غفاري" او حمید الله "غفاري"**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانســـتــــان دی — دا عزت د هــــر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچي يې قهرمــــان دی
دا وطن د ټولو کــور دی — د بلوڅـــو د ازبکــــو
د پښتـــــون او هزاره وو — د ترکمنــــو د تاجکــــو
ورسره عرب، گوجــر دي — پاميــريان، نورستانيـــــان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايمـــاق، هم پشــه يان
دا هيـــواد به تل ځليږي — لکـــه لمــر پر شنه آسمـان
په سينـــه کې د آسيـــا به — لکـــه زړه وي جـــاويدان
نوم د حق مودی رهبـــــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونډ مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپیڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| گڼه | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | فهرست | هــ- و |
| | **۱-تولنه** | |
| ۲ | لومړی لوست: ټولنه څه ته وايي؟ | ۱-۲ |
| ۳ | دويم لوست: انسان د يو ټولنيز موجود په توګه | ۳-۴ |
| ۴ | دريم لوست: د انساني ټولني په پر مختګ کې د ټولنيزو اړيکو ارزښت | ۵-۶ |
| | **۲- ټولنيز خدمتونه** | |
| ۵ | څلورم لوست: ښوونه او روزنه | ۷-۸ |
| ٦ | پنځم لوست: عامه روغتيا | ۹-۱۰ |
| ۷ | شپږم لوست: پوليس | ۱۱-۱۲ |
| ۸ | اووم لوست: اوبه او برېښنا | ۱۳-۱۵ |
| ۹ | اتم لوست: مخابرات | ۱٦-۱۷ |
| ۱۰ | نهم لوست: ډله ييزې رسنۍ | ۱۸-۱۹ |
| ۱۱ | لسم لوست: ښاروالي | ۲۰-۲۱ |
| ۱۲ | يوولسم لوست: زموږ په هېواد کې لېږد رالېږد (ترانسپورټ) او لارې. | ۲۲-۲۴ |
| | **۳- اقتصادي فعاليتونه** | |
| ۱۳ | دولسم لوست: کرنه | ۲۵-۲۷ |
| ۱۴ | ديارلسم لوست: غلې | ۲۸-۳۰ |
| ۱۵ | څوارلسم لوست: ميوې | ۳۱-۳۳ |
| ۱٦ | پنځلسم لوست: سابه | ۳۴-۳۵ |
| ۱۷ | شپاړسم لوست: څاروي | ۳٦-۳۷ |
| ۱۸ | اوولسم لوست: مېږي او پسونه | ۳۸-۴۰ |
| ۱۹ | اتلسم لوست: غواګانې او غوايان | ۴۱-۴۲ |
| ۲۰ | نولسم لوست: آسپې او آسونه | ۴۳-۴۴ |
| ۲۱ | شلم لوست: اوښې او اوښان | ۴۵-۴٦ |
| ۲۲ | يوويشتم لوست: لاسي صنايع | ۴۷-۴۸ |
| ۲۳ | دوه ويشتم لوست: غالۍ اوبدل | ۴۹-۵۰ |
| ۲۴ | درويشتم لوست: څمياري | ۵۱-۵۳ |
| ۲۵ | څلرويشتم لوست: خامک ګنډل | ۵۳-۵۴ |
| ۲٦ | پنځه ويشتم لوست: زموږ په هېواد کې د اوبدلو فابريکې | ۵۵-۵٦ |
| ۲۷ | شپږويشتم لوست: زموږ په هېواد کې د برېښنا د توليد فابريکې | ۵۷-۵۹ |
| ۲۸ | اووه ويشتم لوست: د سيمنټ جوړولو فابريکې | ٦۰-٦۱ |
| ۲۹ | اته ويشتم لوست: فلزي صنايع | ٦۲-٦۳ |
| ۳۰ | نه ويشتم لوست: زموږ په هېواد کې ترکاڼي او حجاري (تيږې تورل) | ٦۴-٦۵ |
| ۳۱ | ديرشم لوست: په افغانستان کې سوداګري | ٦٦-٦۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۲ یو دیرشم لوست: کورنی سوداګري ------------------------------ ۶۸-۶۹

۳۳ دوه دیرشم لوست: بهرنی سوداګري ------------------------------ ۷۰-۷۱

۳۴ درې دیرشم لوست: د افغانستان صادرات او واردات ---------------------- ۷۲-۷۴

### ۴- د استوګنې چاپریال او طبیعي منابع (سرچینې)

۳۵ څلوردیرشم لوست: د افغانستان اقلیم ------------------------------ ۷۵-۷۶

۳۶ پنځه دیرشم لوست: د افغانستان کانونه ------------------------------ ۷۷-۷۸

۳۷ شپږدیرشم لوست: د افغانستان ځنګلونه ------------------------------ ۷۹-۸۰

### ۵- سوله او بشري حقونه

۳۸ اوه دیرشم لوست: سوله او ژوند ------------------------------ ۸۱-۸۲

۳۹ اته دیرشم لوست: سوله څه ډول ټینګولای شو ------------------------------ ۸۳-۸۴

۴۰ نهه دیرشم لوست: بشري حقونه ------------------------------ ۸۵-۸۶

۴۱ څلویښتم لوست: یو انسان کوم حقونه لري ------------------------------ ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱– ټولنه

## لومړی لوست

## ټولنه څه ته وايي؟

**موخې :**

- زده کوونکي دې د ټولنې له مفهوم سره بلد شي.
- زده کوونکي دې د ټولنيزو چارو په ارزښت وپوهيږي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره بلد شئ.**

| | |
|---|---|
| پيروي | په چاپسي تلل، متابعت کول |
| ملت | ديو هېواد خلک چې له يو هويت څخه وي او ديوه دولت تابع وي |
| ټولنه | يوشمير خلک چې ګډ ژوند کوي. |
| ټولنيز | هغه کار چې په ټولو پورې اړه ولري. |

- **ټولنه څه ډول منځته راځي؟**





(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر ځای کې چې يو شمېر خلک يو د بل تر څنګ ژوند کوي، د يو او بل په مرسته يوه موخه ترسره کوي، دې ډول يو ځای کېدو او ګډ ژوند ته ټولنه ويل کېږي. انسان له خپل پيدايښت څخه را په دېخوا په ټولنيزه توګه ژوند کړی دی. مور، پلار او اولادونه ډېره کوچنۍ بشري ټولنه ده چې په يو کور کې ژوند کوي. ټولنه له همدغه ځای څخه پيل کېږي.

ښوونځي د يوې کورنۍ په پرتله يوځه لويه ټولنه ده چې د هلکانو او نجونو د ښوونې او روزنې لپاره جوړ شوي دي.

هغه ښځې، نارينه، کوچنيان، زلميان او مشران چې په يو کلي او يا ښار کې اوسيږي، يوه کليوالي او يا ښاري ټولنه جوړوي. هغه خلک چې په يو هېواد کې اوسيږي له يو بيرغ، حکومت او قانون څخه پيروي کوي، يوه لويه هېوادنۍ ټولنه را منځته کوي چې د ملت په نامه ياديږي.




زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي. د لاندې مطلبونو په هکله دې پخپلو منځونو کې بحث وکړي. ورپسې دې د هرې ډلې استازی د خپلې اړوندې ډلې نظر نورو ټولګيوالو ته واوروي.

- ټولنه:
- ټولنيز:

## بيلګه ييزې پوښتنې:

د سمو جملو په وړاندې د (√) نښه او د ناسمو جملو په وړاندې د (×) نښه وليکئ.

– آيا په جومات کې د مسلمانانو راغونډېدو ته ټولنه ويلی شو؟ (      ).

– آيا د يو هېواد اوسيدونکو ته چې له يو قانون څخه پيروي کوي، ملت ويلی شو؟ (   )

– کورنۍ يوه کوچنۍ ټولنه ده. (      )

– ښوونځي ته کوچنۍ ټولنه نه ويل کېږي. (      )

– مور بايد د خپل کلي په ټولنيزو چارو کې لکه د لارو جوړول، برخه واخلو. (    )

– د خپل کلي او استوګنځي پاک ساتل يو ټولنيز کار دی. (    )

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست

# انسان د یوه ټولنیز موجود په توګه

**موخې:**

زده کوونکي دې د انسان په هکله معلومات ترلاسه کړي.

زده کوونکي دې له ټولنیزو اړیکو سره مینه پیدا کړي.

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.

| | |
|---|---|
| حشر | د کوم کار په خاطر د خلکو راغونډول، ډله ییز کار |
| صفت | ځرنګوالی، هغه کلمه ده چې د یو شي او یا یو چا ځرنګوالی بیانوي |
| باور | عقیده |
| پوهان | دانایان، عالمان. |

- **آیا انسان یو ټولنیز موجود دی؟**
- **آیا انسان دوست ته اړتیا لري؟**

تاسې په وړوکتوب کې دوستان او ملګري لرل چې هر وخت به سره یو ځای وئ. یو له بله سره به مو لوبې کولې، جګړې به مو کولې او بیا به پخلا کیدئ، لانجه او پخلاینه به مو کوله. که نن ورځ ستاسې هغه د لوبو ملګري او انډیوالان نشته، په ښوونځي کې مو د هغو پر ځای نور ډېر خواږه ملګري پیدا کړي دي. یوازې تاسې نه یاست چې دغسې انډیوالان لرئ، ستاسې ښوونکي هم دغسې ملګري لري.

ستاسې مور او پلار هم دغسې دوستان او ملګري لري. نو ویلی شو چې په هر ځای او د ټولنیز ژوند په هر پړاو کې دغه انساني غوره او په زړه پورې صفت او واقعیت لیدی شو.

د وګړو تر منځ یوله بل سره د اړیکو د ټینګولو هڅې هر وخت او په هر ځای کې شته. له دې کبله زیاتره پوهان په دې باندې باور لري چې انسان یو ټولنیز موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او د لاندې مطلبونو په هکله دې پخپلو منځونو کې خبرې وکړي.
وروسته دې د هرې ډلې استازي د خپلې اړوندې ډلې نظر ټولګيوالو ته بيان کړي.

ښه دوست:

بد دوست:

## بېلګه ييزې پوښتنې:

- تاسې څو دوستان لرئ؟
- له خپلو دوستانو څخه څه هيله لرئ؟
- بد دوستان تاسې ته څه تاوان رسوي؟
- ښه دوستان له تاسې سره څه ډول مرسته کوي؟

**له ټولګي څخه دباندې فعاليت:**

د حشر په هکله يو مطلب وليکئ او په ټولګي کې يې ولولئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دريم لوست**

# د انساني ټولنې په پرمختګ کې
## د ټولنيزو اړيکو ارزښت

**موخې:**

زده کوونکي دې په ټولنيزو اړيکو باندې څه نا څه وپوهيږي.


زده کوونکي دې له ټولنيزو اړيکو سره مينه پيدا کړي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ**

| | |
|---|---|
| نصيب | برخه |
| اړوند | مربوطه |
| مسؤوليت | د يو کار يا دندې په غاړه اخيستل |

- آيا کولای شو چې په يوازې توګه خپلې ټولې اړتياوې پوره کړو؟



هېڅوک نه شي کولای چې په يوازې توګه خپلې ټولې اړتياوې او نيمګړتياوې پوره او تر سره کړي. له دې امله ټول انسانان ګډ ژوند او مرستې ته اړ دي. د بېلګې په توګه ترکاڼ نه شي کولای چې له ډوډۍ پخوونکي، سبو خرڅوونکي، پنبې، حلبي جوړوونکي، ټوکر پلورونکي، چميار، ګنډونکي او داسې نورو سره اړيکي ونه لري. ځکه هغه نه يوازې دغو شيانو ته چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی يې لري، اړتيا لري، بلکې د هغوی مرستې ته هم اړ دی. په داسې حال کې چې موږ هر يو د خپلې کورنۍ د کوچنۍ ټولنې غړي يو، د خپل کلي، کوڅې، چم، ناحيې، ښار او هېواد د ټولنې غړي هم يو. موږ هر يو په دې ټولنو کې دندې او مسؤوليتونه لرو چې بايد هغه په ښه توگه سرته ورسوو، تر څو د نړۍ د پرمختللو هېوادو په شان ترقي او پرمختگ زموږ د هېواد په برخه شي.




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو ووېشل شي. د لاندې مطلبونو په هکله دې خبرې سره وکړي او بيا دې د هرې ډلې استازی د خپلې اړوندې ډلې نظر په ټولگي کې ووايي .

- په ټولنه کې زموږ مسؤوليت څه شی دی؟
- په ټولنه کې زموږ حقونه کوم دي؟

## ښېلگه ييزې پوښتنې:

- په هغه ټولنه کې چې په کې اوسېږئ، څه دنده لرئ؟
- ستاسې مور او پلار څه دنده لري؟
- آيا ستاسې کورنۍ کولای شي چې خپلې ټولې اړتياوې پوره کړي؟
- گنډونکي چاته اړ دي؟
- ډوډۍ پخوونکي له چا سره بايد اړيکي ولري؟
- د خپلو گاونډيانو په هکله کوم مسؤوليت لرو؟



**له ټولگي څخه بهر فعاليت :**

د خپلو مشرانو په مرسته د گاونډيي د حقونو په هکله يو مطلب وليکئ او سبا ته يې په ټولگي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلورم لوست

# ۲– ټولنيز خدمتونه

## ښوونه او روزنه

**موخې:**

- زده کوونکي دې د افغانستان د ښوونې او روزنې له تاريخ سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د رسمي او عنعنوي ښوونې او روزنې تر منځ په توپيرونو وپوهيږي.

- د رسمي پوهنې له منځته راتلونه د مخه زموږ په هېواد کې څه ډول زده کړه کيده؟
- د رسمي ښوونځيو په جوړيدو سره پوهنې څه ډول وده وکړه؟

پخوا تر دې چې زموږ په هېواد کې پوهنه په رسمي ډول منځته راشي، زده کړې به په عنعنوي يا دوديز ډول په کورونو او جوماتونو کې تر سره کيدې او په دې توگه به يو شمېر کوچنيانو ليکل او لوستل زده کول.

له لاندې نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره بلد شئ

| | |
|---|---|
| عنعنوي | دوديز |
| ويجاړ | وران ، نړيدلي |
| بڼه | شکل ، څيره |
| پياوړي | غښتلي ، تکړه ، قوي |
| واکمنۍ | پادشاهي او مشري ، واکداري |
| عصري | نوي ، تازه ، نني ، اوسني |
| ګوټ ، ګوټ | گوښه او څنډه |
| پيداگوژي انستيتوت | ښوونه او روزنه يا د ښوونې او روزنې په برخه کي مسلکي پوهه |

د امير شير علي خان په وخت کې پوهنې رسمي بڼه پيدا کړه، د کابل په ښار کې دوه ښوونځي پرانيستل شول، چې يويې ملکي او بل يې نظامي و.
له هغې وروسته د امير حبيب الله خان د واکمنۍ په وخت کې په عصري بڼه د لومړي ځل لپاره د (حبيبيې) په نامه د عصري ښوونځي بنسټ کېښودل شو. بيا د اعليحضرت امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې پوهنې په هېواد کې ډېر زيات پر مختگ وکړ. د هېواد په ټولو ولايتونو کې د ښوونځيو په پرانيستلو سربيره يې د لومړي ځل لپاره د کابل په ښار کې د (مستورات) په نامه (ځانگړې ښځينه ښوونځې) پرانيست. وروسته د حبيب الله کلکاني د واکمنۍ په وخت کې دغه ښوونځي وتړل شول. خو د اعليحضرت محمد نادرخان د واکمنۍ په دوره کې دغه ښوونځي بيرته پرانيستل شول. د اعليحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په زمانه کې لومړني او منځني ښوونځي، عمومي او مسلکي ليسې، دارالعلومونه، د ښوونکو د روزنې عالي موسسې او پوهنتونونه د هېواد په گوټ گوټ کې جوړ او رواج شول.
د وخت په تېريدو او په هېواد کې د بدلونونو په راتلو سره د پوهنې سيستم تر بل هرڅه زيات ويجاړ او د دغو بدلونونو تر اغېز لاندې راغی.
د مجاهدينو د واکمنۍ په منځته راتلو سره يو شمېر غير فعال ښوونځي بيرته فعال شول.
په هېواد کې د لنډ مهاله او انتقالي دولتونو په برياليتوب سره د پوهنې سيستم بيرته را ژوندی او د پياوړتيا په لور روان شو او له نړيوالو معيارونو سره سم نوی تعليمي نصاب منځته راغی.
په ټول هېواد کې ښوونځي، پوهنتونونه، د ښوونکو د روزنې عالي موسسې، د پيداگوژۍ انستيتوتونه، مسلکي ښوونځي او ديني مدرسې فعالې او څه نا څه د (۵ ميليونو) هغو کوچنيانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په کې د زده کړې زمينه برابره شوه، چې عمر يې په ښوونځيو کې د شموليت لپاره برابر وو. په لومړنيو ښوونځيو کې په مختلط (ګډ) ډول او په منځنۍ او ثانوي دورو کې په غير مختلط ډول د زده کړې موقع برابره شوه او تر منځنۍ دورې پورې زده کړه جبري اعلام شوه.




زده کوونکي دې په دوو ووېشل شي. هره ډله دې د لاندې موضوع ګانو په هکله دوه دقيقې خبرې وکړي او بيا دې د هغوی استازي دغه خبرې په ټولګي کې بيان کړي.

- دوديزه ښوونه او روزنه
- رسمي ښوونه او روزنه

**بيلګه ييزې پوښتنې:**

– په افغانستان کې د ښوونې او روزنې تاريخچه بيان کړئ.

– د ښوونې او روزنې کومه بڼه ډېره اغېزمنه ده؟



**له ټولګي څخه دباندې فعاليت :**

**د خپلو مشرانو په مرسته وواياست چې ستاسې په نظر کوم ډول ښوونه او روزنه ښه ده؟ همدارنګه د دايرو دننه جملې يوه له بلې سره پرتله او بيايې يو تر بله سره ونښلوئ .**

**عصري ښوونه او روزنه** — **سره ورته والي** — **دود يزه ښوونه او روزنه**

**عصري ښوونه او روزنه**

١. د ښوونځي چاپيريال او ټولنه د زده کړې ځای دی.
٢. زده کړه ډله ييزه، مشترکه او ګډه ده .
٣. له کتاب او درسي مرستندويه موادو پرته له کمپيوتر او د زده کړې له نورو عصري وسايلو ګټه اخلي .
۴. تدريس دوه اړخيز دی، په دې معنا چې ښوونکی او زده کوونکي دواړه فعال دي.
۵. زده کوونکي په تحقيقي (څېړنيزو) چارو بوختيږي .
٦. ننني ښوونځي زده کوونکو ته ور زده کوي چې څه ډول يې زده کړي.
٧. زده کوونکي فکر کولو او هڅولو ته اړ باسي.
٨. ښوونه او روزنه عامه ده .

**سره ورته والي**

زده کړه

**دود يزه ښوونه او روزنه**

١. کوروونه او جوماتونه د زده کړې ځايونه دي.
٢. زده کړه انفرادي يا ځانله ځانله ده.
٣. يوازې له کتاب څخه يې ګټه اخيستله .
۴. زده کړه په يو اړخيز ډول ده. زده کوونکي غير فعال وي.
۵. يوازې د کتاب په مطلبونو بسنه (اکتفا) کيږي.
۶. زده کوونکي د کتاب د مطلبونو په حفظ کولو مجبور دي.
٧. ښوونه او روزنه وګړنيزه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

# عامه روغتیا

**موخې:**

- زده کوونکي دې د روغتیا له مفهوم سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې له ناروغیو څخه د مخنیوي په خاطر پاکوالی په پام کې ونیسي.
- زده کوونکي دې خپلې روغتیا او سلامتیا د ساتلو سره مینه پیدا کړي.

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.

| مفهوم | معنا |
|---|---|
| تشکیل | یوه شي ته شکل ورکول، جوړښت |
| وقایه | د یوه شي په واسطه د کوم شي ساتل او مخه نیول |
| معالجه | د ناروغ علاج کول |
| خځلې | نا پاکی، جارو شوی نا پاکی |
| چاپیریال | محیط |
| غونډېدل | ټولول، یوځای کول |
| بېلګه | مثال، نمونه |


- د ناروغیو د مخنیوي په خاطر باید څه وکړو؟
- کومو شیانو ته پاملرنه وکړو چې ناروغ نه شو؟



د خلکو د روغتیا او سلامتیا د ساتلو په خاطر په دولتي تشکیلاتو کې د روغتیا وزارت موجود دی. دغه وزارت د هېواد د ټولو خلکو د درملنې مسؤولیت په غاړه لري. د روغتیا د وزارت دندې په دوو برخو ویشل کېږي:

د وقایې او یا د ناروغیو د مخنیوي برخه او د ناروغیو د درملنې برخه. د روغتیا وزارت د کوچنیانو د ناروغیو لکه پولیو (ګوزن)، کوی (چیچک)، شری، تیتانوس او داسې نورو پر ضد واکسین ورکوي چې د وړونکو او خطرناکو ناروغیو په وړاندې وقایه شي.

وقایه د درملنې په پرتله آسانه او ارزانه ده.د روغتیا وزارت او د هېواد ټول خلک دنده لري چې د خپل چاپیریال او استوګنځي لکه کور، کلي، کوڅې او ښار پاک ساتلو ته پاملرنه وکړي. په ناولي او ککړ چاپیریال کې مچان، غوماشې او میکروبونه وده کوي او د دوړ، ډول ناروغیو د لېږدېدلو سبب ګرځي. په دې خاطر موږ ټول باید خپل کالي، ځان، کوڅه، ښوونځي، کور او استوګنځی پاک وساتو او خځلې سره راغونډې او په خپل ټاکلي ځای کې واچوو تر څو په ډول، ډول ناروغیو اخته نه شو. د روغتیا د وزارت بله دنده دا ده، چې د هېواد په ټولو ولایتونو، ښارونو او ولسوالیو کې روغتونونه او کلینیکونه جوړ کړي، چې ددغو ځایونو په ناروغیو باندې د اخته خلکو درملنه وکړي.



ناولی چاپیریال



پاک چاپیریال



SS(P)0507

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي، هره ډله دې په لاندې موضوعګانو باندې خبرې وکړي او بیا دې د هغوی استازي د دوی نظر د ټولګي والو په وړاندې ووايي:

- دخپل ځان د روغتيا او سلامتيا په هکله باید څه وکړو؟
- د ناروغيو د مخنيوي لپاره څه کارکولای شو؟
- داستوګنځي پاک ساتل د انسان د روغتيا لپاره څه ګټه لري؟

**بيلګه ييزې (نمونه يي) پوښتنې:**

۱. څه ډول کولای شو د ناروغيو په وړاندې ځانونه وقايه کړو؟

۲. واکسين د څه لپاره دي؟ ماشومان ولې واکسينوي؟

۳. دخپل کور، کلي، کوڅې او ښار په پاک ساتلو کې موږ او تاسې يعنې د هېواد ټول اوسيدونکي څه مسؤوليت لرو؟



**له ټولګي څخه د باندې فعاليت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د شري او کوي په هکله معلومات تر لاسه کړئ او سبا يې په ټولګي کې خپلو ټولګيوالو ته ووایاست.

---

(۱) کوی (چیچک) هغه ناروغي ده چې په ټول عمر کې يې سړی يو وار تېروي. هغه څوک چې په دې ناروغۍ اخته شي په مخ او پوټکي باندې يې داني راخيژي. کله چې دغه داني وچې شي او ناروغ له دې ناروغۍ څخه جوړ شي په وجود باندې يې د دغې ناروغۍ ټپونه پاتې کيږي. له نيکه مرغه چې اوس د دغې ناروغۍ واکسين پيدا شوی دی، چې که چېرې کوچنيانو ته ولګول شي، نو په دې ناروغۍ نه اخته کيږي.

(۲) شری: دا هغه ناروغۍ ده چې د سړي په پوټکي باندې سور رنګه وړې داني راخيژي. دغــه ناروغي هم سړی په ژوندانه کې يو وار نيسي. واکسين يې د ناروغۍ سختوالی او خطر کموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# پولیس

**موخې:**

- زده کوونکي د پولیس او د هغه له دندو سره آشنا کول.
- زده کوونکي له ترافیکي قوانینو سره بلدول.
- زده کوونکي دې د ترافیکي قوانینو رعایت وکړي.

- د پولیسو دندې او مسؤولیتونه څه شی دي؟
- د ترافیکو پولیس څه دنده لري؟



له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.

| | |
|---|---|
| پولیس | د امنیت ساتونکي |
| څارل | یو شي ته کتل، تعقیبول |
| ادامه | پایښت، دوام |
| امنیت | امن او آرامي |
| تطبیق | د یو شي په عمل کې پلي کول |
| نظم | ترتیب |

پولیس په ټول هېواد کې د امن د ساتلو دنده په غاړه لري. هر څوک چې لـه ټـولنیزو اخلاقو سره په مخالفو عملونو لکه: غلا، بډې اخیستلو، اختلاس، قاچاقو او داسې نورو باندې لاس پورې کړي او د دولت قوانین تر پښولاندې کړي، پولیس یې څاري او نیسي یـې. لـه لومړنیو څېړنو وروسته یې څارنوالۍ او محکمې ته استوي. همدارنګه پولیس دنده لري چې په ټول هېواد کې امنیت ټینګ او د دولت قوانین پلي کړي چې خلک وکړای شي په آرامه فضا کې خپل ورځني ژوندانه ته دوام ورکړي.

که څه هم پولیس زیاتې دندې لري خو په لنډ ډول یې یو څه د بېلګې په توګه دلته راوړوو.

۱- د دولتي دوایرو ساتل

۲- د عامه موسساتو ساتل

۳- د بهرنیو موسسو او سفارتونو ساتل

۴- د لارو د امنیت ساتل

۵- د دولت د قوانینو پلي کول، څارنه او له هغو څخه د سر غړوونکو تعقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د ترافيکو پوليس په واټونو او لويو لارو کې د ترافيکي مقرراتو د تنظيم او پلي کيدو دنده په غاړه لري، چې ټول لېږدونکي وسايط او خلک د تلو راتلو او له واټونـــو څخـــه د تېريدو په وخت کې له ستونزو سره مخامخ نه شي.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې نقليه وسايط د واټونو او لارو په بنې لاس تګ راتګ کوي. په زياتره ځلور لاروکې د ترافيکو يو يا څو تنه پوليس د ترافيکو د پېښو د مخنيوي په خاطر نقليه وسايطو ته لازمه لارښوونه کوي. په ځينو ځلور لاروکې ترافيکي څراغونـــه درول شوي دي. د سره څراغ په لګيدو نقليه (لېږدونکي) وسايط درېږي. د ژېړو څراغونو په لګيدو سره موټر د حرکت لپاره تيارى نيسي او د شنو څراغونو په روښانه کيدو سره حرکت کوي.

د نړۍ په پر مختللو هېوادونو کې ترافيکي څراغونه د کمپيوتر په واسطه اداره کېږي.




**زده کوونکي دې په دريو ډلو وويشل شي. هره ډله دې د لاندې موضوعګانو په هکله له خپلو ملګرو سره مشوره وکړي. بيا دې هره ډله د لاندې موضوعګانو په هکله معلومات وړاندې کړي:**

- **لومړۍ ډله:** پوليس څه دنده لري؟
- **دويمه ډله:** پوليس څه ډول خلک تعقيبوي، نيسي يې او بيا يې څارنوالي او محکمې ته استوي.
- **دريمه ډله:** د ترافيکو د پوليس دنده څه شى ده؟

## بيلګه ييزې پوښتنې:

١- خلک د پوليسو په وړاندې څه مکلفيت لري؟

٢- له ځلور لارو څخه څه وخت او څنګه تېر شو؟

٣- د چا خوښېږي چې په راتلونکي کې پوليس شي؟ او ولې؟

۴- د ترافيکو د پوليس دنده ولې سخته او مشکله ده؟

۵- پوليس يعنې څه؟

**له ټولګي څخه د باندې فعاليت:**

که چېرې تاسې پوليس شوئ څه کارونه سرته رسوئ؟ په دې هکله يو مطلب جوړ کړئ او په ټولګي کې يې ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اووم لوست

# اوبه او برېښنا

**موخې :**

- زده کوونکي دې د اوبو او برېښنا په ارزښت او ګټو باندې پوه شي.
- زده کوونکي دې د برېښنا پر خطرونو باندې پوه شي او له هغوی څخه دې ځانونه وژغوري.

– تاسې په کورکې برېښنا لرئ؟ که لرئ يې له هغې څخه څه ډول ګټه اخلئ؟



د بر ېښنا د بند عکس

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.

| | |
|---|---|
| ژغورل | ساتل |
| انرژي | ځواک، قوت، طاقت |
| توګه | ډول |
| پکيو | پکې |
| کېبل | د برېښنا مزی |

اوبه د ژوندانه لپاره يوه مهمه او حياتي ماده ده او د يوې سيمې د زرغونيدو او ښکلا سبب ګرځي. له نيکه مرغه زموږ ګران هېواد يو غرنی هېواد دی چې سيندونه ور څخه سر چينــه اخلي. هغه اوبه چې له لوړو او غرنيو سيمو څخه هوارو ځمکو ته را بهيږي يوه داسې قوه او انرژي ترې نه تر لاسه کېږي چې خلکو له پخوا زمانو څخه تر ننه پورې ترې ډول، ډول ګټې اخيستې دي. د بېلګې په توګه خلک سر بېره پر کرنې د ژرندې، پايکو او آبي پکيو په فعالولو کې هم ترې کار اخلي. همدارنګه د برېښنا د بندونو تر څنګ د برېښنا د توليدونکو توربينونو په لګېدو سره برېښنا لاس ته راوړي او له هغې څخه د کورونو په روښانولو، د ماشــينونو د فعالولو او داسې نورو چاروکې کار اخلي. تر اوسه پورې زموږ په هېواد کې د سيندونو لــه پاسه يو زيات شمېر بندونه جوړ شوي دي چې د يادولو وړ يي د نغلو، کجکي، ســروبي او درونټې بندونه دي. هغه برېښنا چې د برېښنا په بندونو کې توليديږي د هوايي لينونو او کېبلونو په واسطه ښارونو او فابريکو ته لېږدول شوې ده.

د برېښنا له انرژۍ څخه ډېرې ګټې اخيستل کېږي چې د هغو له جملې څخه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– کورونه د برېښنا د انرژۍ په واسطه روښانه کېږي.

– راډیو او تلویزیون د برېښنا د انرژۍ په واسطه کار کوي.

– کمپیوټر د برېښنا د انرژۍ په واسطه فعالیږي.

– یو شمېر خلک د برېښنایي منقلونو په واسطه خواړه پخوي.

– برېښنایي پکي، آبګرمي، برقي اوتو او ځیني نورشیان د برېښنا په انرژۍ کار کوي.

پر حرارتي او آبي برېښنا سر بیره د نړۍ په پر مختللو هېوادونو کې له اتومي انرژۍ او د لمر له انرژۍ څخه هم برېښنا لاس ته راوړي.

امریکایي ستر پوه (اډیسن) برېښنا اختراع کړه چې موږ تر اوسه پورې له هغې څخه ګټه اخلو. هغوی له دې لارې څخه بشریت ته ستر خدمت تر سره کړی دی.

## د برېښنا خطرونه او د دغو خطرونو مخنیوی:

– د برېښنا لین دوه مزي لري. یویې مثبت او بل یې منفي دی. که چېرې د برېښنا لینونه لوڅ وي، په دې صورت کې دواړه مزي یو له بله سره نښلي، شارټي (ټکر) رامنځته کېـــږي او د کورونو د سوځېدو او د اور د لګیدو او خپرېدو لامل کېږي. له دې کبله باید کوښښ وشي چې د برېښنا لینونه زاړه او لوڅ نه وي.

که چېرې د انسان لاس د برېښنا په لوڅ مزي ولګېږي برېښنا یې نیسي او وژني یې. باید هغه چاته چې برېښنا نیولی وي لاس ورنه وړو. په دې صورت کې باید کوښښ وشي چې د برېښنا بهیر بند شي.

په لمدو او نمجنو ځایونوکې د برېښنا زاړه لینونه شارټي کوي او د ځاني تلفـــاتو او زیانونو سبب ګرځي. د برېښنا له زړو او شارټ شوو وسایلو او سامانونو څخه بایـــد کـــار وانه‌خیستل شي ځکه چې د ځاني او مالي تلفاتو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي. هره ډله دې له لاندې موضوعګانو څخه د یوې په هکله بحث وکړي. وروسته دې دهغوی استازي په دې هکله د خپل ګروپ نظر ووايي.

لومړۍ ډله: د اوبو له قوې څخه څه ګټه تر لاسه کولی شو؟

دویمه ډله: له برېښنا څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟

دریمه ډله: د برېښنا له خطرونو څخه ځانونه څه ډول وساتو؟

څلورمه ډله: په پرمختللو هېوادونو کې د برېښنا تولید په څه ډول دی؟

**بیلګه ییزې پوښتنې:**

۱- له اوبو څخه څه ګټه اخیستی شو؟

۲- خلک څه ډول له سیندونو څخه برېښنا تر لاسه کولای شي؟

۳- برېښنا څه ګټه لري؟ په دې اړه معلومات وړاندې کړئ.

۴- د برېښنا له خطرونو څخه څه ډول ځانونه وژغورو؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د برېښنا د بې ځایه لګښت د مخنیوي په اړه یو مطلب ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

# مخابرات

**موخې:**

- زده کوونکي د مخابراتو د کلمې پر مفهوم او معنا پوهول.
- زده کوونکي دې له مخابراتي وسایلو څخه ګټه واخیستلای شي

– څرنګه کولای شو د هېواد دننه او بهر له خپلو دوستانو سره تماس ونیسو؟
– د تېلیفون او موبایل تېلیفون په هکله څه پوهېږئ؟



له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره اشنا شئ.

| | |
|---|---|
| مخابرات | خبر اخیستل او خبرلېږل |
| ایمیل | هغه لیکنه چې دبرېښنا د الکترونونو په واسطه لیږل کېږي، برېښنالیک |
| تماس | تړاو، ارتباط |
| موبایل | ګرځنده |
| انټرنیټ | د نړیوالې شبکې نوم دی چې د نړۍ ټول کمپیوټرونه سره نښلوي |
| کمپیوټر | د معلوماتو هغه پر مختللی ماشین دی چې د بشر بې شمېره اړتیاوو ته ځواب وایي |

مخابرات د انسانانو تر منځ د اړیکو نیولو وسیله ده. پخوا چې تېلیفون، مخابرې، سړکونه، موټرونه، الوتکې او نور نقلیه (لېږدوونکي) وسایط موجود نه وو، خلک به له یو ځای څخه بل ځای ته پلي تلل. د لیک، خبر او یا احوال او کوم جنس وړلو به زیات وخت نیوه. له نیکه مرغه نن ورځ د مخابراتي نورو وسایلو لکه: تیلفون، تیلګراف، فکس، موبایل او برېښنالیک په واسطه په ډېر لږ وخت یعنې په څو ثانیو کې حال احوال رسیږي او همدارنګه د نقلیه وسایطو لکه د موټرو، اورګاډو او الوتکو په منځته راتلو سره هم د مخابراتو آسانتیاوې ګړندۍ شوي دي.

مخابرات په واقعیت کې د یوې ټولنې د اعصابو حیثیت لري، ځکه د هغوی په واسطه کولای شو چې په ډېر لږ وخت کې د نړۍ له پیښنو څخه خبر شو.

زمـــوږ په هېواد کـــې له ډېرو پخوا وختونو راهیسې له تېلیفون څخه ګټه اخیستل شوې ده. نن په نړۍ کې د مخابراتو له ډېرو پر مختللو وسایلو لکه: فکس، کمپیوتر او انترنت څخه کار اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فکس ماشين د مهمو او ضروري اسنادو په ليږلو کې ډېرې آسانتياوې رامنځته کړې دي.
کمپيوټر يو نوی او مدرن ماشين دی چې کولای شي د بشر ډېرې اړتياوې پوره کړي.
کمپيوټر هر ډول معلومات پخپله حافظه کې ساتي او د ضرورت په وخت کې له هغې څخه کار اخيستل کيږي.

انټرنټ په حقيقت کې د يوې نړيوالې شبکې نوم دی چې د نړۍ کمپيوټرونه او شبکې يوه له بلې سره نښلوي. انټرنټ په کم وخت کې خبرونه، عکسونه او ليکلي معلومات په لږ لګښت سره له يوه ځای څخه بل ځای ته لېږدوي.

په دې وروستيو کې زموږ په هېواد کې د موبايل ټيليفونونو، فکس، کمپيوتر او څه ناڅه له انټرنټ څخه کار اخيستل کېږي.





**زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي. هره ډله دې له لاندې موضوعګانو څخه د يوې په هکله خبرې وکړي او بيادې د هغوی استازي د خپل اړوند ګروپ (ډلې) نظر خپلو ټولګيوالوته وړاندې کړي.**

- خلکو به په پخوا زمانوکې څه ډول خپل خبرونه او احوال له يوه ځای څخه بل ځای ته لېږدول؟
- د نن ورځې او د تېرو وختونو د ليکونو او شيانو د وړلو او راوړلو چارې يوه له بلې سره پرتله کړئ.
- نن ورځ زموږ په هېواد او نړۍ کې څو ډوله ټيليفونونه موجود دي؟

## ېبلګه ييزې پوښتنې:

١- د نوو لويو لارو موجوديت د مخابراتو په برخه کې څه رول لري؟
٢- د مخابراتي وسايلو د ډولونو نومونه واخلئ او ووايئ چې خلک نن له کومو مخابراتي وسايلو څخه کار اخلي.
٣- له انټرنټ څخه څه کار اخيستل کېږي؟
٤- کمپيوتر د څه لپاره کارول کېږي؟



**له ټولګي څخه د باندې فعاليت:**
نوو او مدرنو مخابراتي وسايلو څه ډول آسانتياوې رامنځته کړې دي؟ په دې هکله يومطلب برابر او سبا ته يې په ټولګي کې وواياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست


# ډله ييزې رسنۍ

**موخې:**


- زده کوونکي دې له ډله ييزو خپرونو سره آشنا شي
- زده کوونکي دې له ډله ييزو خپرونو څخه ښه ګټه واخيستی شي

**هغه ډله ييزې خپروني (رسنۍ) چې پيژنئ، نومونه يې واخلئ؟**









**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| اختراع | ديو نوي شي جوړول چې د مخه تري هغه بل چا نه وي جوړ کړی |
| کابو | نژدې، تقريباً، لږ تر لږه |
| اطلاعات | خبرونه، معلومات او خپروني، رسنۍ |

ډله ييزې خپروني او رسنۍ د ولسونو د فکرونو د روښانولو لپاره زيات ارزښت لري. دغه خپروني ډېر ډولونه لري، لکه:کتاب، ورځپاڼه، مجله، راديو، تلويزيون، کمپيوتر، انترنټ او داسې نور.

راډيو د تلګراف له پرمختګ څخه وروسته منځته راغله. راډيو د لومړي ځل لپاره يــو ايټالوي پوه (مارکوني) په ۱۲۷۳ لمريز کال کې اختراع کړه. له راډيو څخه زموږ په هېواد کې د امير امان الله خان د پادشاهۍ په وخت کې کار واخيستل شو. وروسته بيا د اعليحضرت محمدظاهر خان د واکمنۍ په وخت کې د راديويي خپرونو لومړنۍ دستګاه په هېواد کې پــه فعاليت پيل وکړ. خلک د راډيو له لارې کولای شي چې په کم وخت کې له نړيوالو پېــښو څخه خبر شي.

له نن څخه کابو دوه اويا (۷۲) کاله دمخه په ۱۹۳۶ م کال کې د لومړي ځل لپاره د تلويزيون اساسي او عمومي ننداره د انګلستان هېواد په مرکز د لندن په ښار کې وښودل شوه.

زموږ په هېواد کې د تلويزيون لومړنۍ آزمايښتي خپروني د ۱۳۵۶ هــ ش کال د کب د مياشتې په (۲۵) نېټه پيل شوې او په رسمي توګه په کال ۱۳۵۷ هــ ش د تلويزيون نشرات پيل شول. په تلويزيون کې کولای شو چې د علمي، خبري، تفريحي، ښوونيزو او داسې نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطلاعاتو او خپرونو ننداره وکړو. هر وخت باید کوښښ وشي چې له تلويزيون څخه ښه او په زړه پورې ګټه واخيستل شي. د هغو فلمونو له نندارې څخه ډډه وکړو، چې د ټولنيزو اخلاقو پر ضد او زموږ د اسلامي او افغاني کلتورمخالف وي.

په اوسني وخت کې د نړۍ په زياتره هېوادونو کې له انټرنټ څخه ګټه اخلي. انټرنټ ډېره نوې او غوره اطلاعاتي او معلوماتي وسيله ده. انټرنټ له نن څخه تقريباً پنځه ديرش کاله دمخه د کمپيوټرونو د نښلولو په نتيجه کې منځته راغی. اي ميل (برښناليک) د معلوماتو او احوال د ليږد راليږد ښه لاره ده.

انټرنټ په حقيقت کې دهغې نړيوالې شبکې نوم دی چې نړيوالې کمپيوټري شبکې يوه له بلې سره نښلوي. انټرنټ په ډېر لږ وخت کې خبرونه، عکسونه، ليکلي معلومـــات او نـــور پروګرامونه په ډېر کم لګښت له يوه ځای څخه بل ځای ته لېږدوي. د نړۍ د پـــر مختللـــو هېوادونو خلک له انټرنټ څخه زياته ګټه اخلي. زموږ په ګران هېواد افغانستان کې هم ددغه نوي تخنيک بنسټ ايښودل شوی او ګټه اخيستل ورځ‌څخه پيل شوي دي.

**په ټولګي کې دننه فعاليت:**

زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي. هره ډله دې له لاندې موضوعګانو څخه د يوې په هکله فکر وکړي او د ټولګي استازي دې موضوع د ټولګيوالو په وړاندې بيان کړي.

- له راډيو څخه څه ګټه اخيستی شو؟
- له تلويزيون څخه څه ګټه تر لاسه کولای شو؟
- له انټرنټ څخه څه ګټه اخيستی شو؟
- ورځپاڼې او مجلې څه اهميت او ارزښت لري؟

**بيلګه ييزې پوښتنې:**

۱- د ډله ييزو خپرونو د وسايلو نومونه واخلئ!

۲- راډيو د لومړي ځل لپاره چا جوړه کړه؟ زموږ په هېواد کې له راډيو څخه له کـــوم وخت څخه را په دې خوا کار اخيستل کېږي؟

۳- د افغانستان تلويزيون څومره لرغونوالی لري او د هغه کوم پروګرام زيات ښـــوونيز اړخ لري؟

۴- انټرنټ پيژنئ؟

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

د ډله ييزو خپرونو د وسايلو له جملې څخه د يوې نوم واخلئ. د هغو د ګټو او کارولو په هکله يو مطلب وليکئ او ټولګي ته يې واوروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

# ښاروالي

**موخې:**

- زده کوونکي دې د ښاروالۍ او د هغې له دندو سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د خپل ځان او د ښار پاکۍ او صفايۍ ته پام وکړي.
- زده کوونکي دې د خپل ښار له سمسورتيا سره مينه پيدا کړي.

- ښاروالي څه دنده لري؟
- مورږ د خپل ښار د پاکۍ، صفايۍ او سمسورتيا په اړوند څه مسؤوليت لرو؟

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| سمسورتيا | ښېرازي او سرسبزي |
| واټ | جاده |
| ټکس | محصول |
| کرښه | ليکه، خط، سطر |



په ټولو لويو او وړو ښارونو کې د ښاروالۍ په نامه يوه اداره وي. ښاروالي بېلا بېلې دندې لري چې تر ټولو د پام وړ يې دا دي:

- د ښار د واټونو، سرکونو جوړول او پخول
- د مارکيټونو د فعاليت څارل
- په ښار کې د نيالګيو کېنول او سمسورتيا
- د ښار د کوڅو او سرکونو پاکول
- د کورجوړولو په پروژو کې ښاريانو ته د کورونو لپاره د ځمکې وېشل
- له ښاريانو څخه د کورونو، دوکانونو او صفايۍ د محصول اخيستل

په کوچنيو ښارونو کې په ښار پورې اړوندې چارې ټولې د ښاروالۍ د ادارې له خوا تر سره کېږي. په لويو ښارونو کې د سيمې د پراختيا له امله ښارونه په ناحيو بانـــدې ويـــشل شوي دي. په هره ناحيه کې د ښاروالۍ استازي د هغې ناحيې په سر کې ځای لري او خپلـــې اړوندې چارې د ښاروالۍ تر مرکزي ادارې او لارښوونې لاندې ترسره کوي.

مورږ ټول دنده لرو چې د خپلو کورونو ناپاکي او خځلې يا چټلې په هغه ټاکلو ځـــايونو (کثافات دانۍ) کې واچوو چې د ښاروالیو له خوا جوړ يا ځای پرځای شوي دي، تر څـــو د ښاروالۍ کارکوونکي له ستونزو سره مخامخ نشي. همدارنګه په پارکونو کې د ګرځيدو پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې باید د چمنونو کبلې تر پښو لاندې نه کړو. د ګلانو او ونو ښاخونه مات نه کـړو او د خپل ښار په ښکلا او سمسورتیا کې پوره ونډه واخلو.

د نړۍ په نورو ښارونو کې ښاروالي د شپې له خوا او یا هم سهار وختي له لمر ختـو څخه وړاندې ناپاکي او خځلې له ښار څخه د باندې لرې سیمو ته وړي. د ښارونو خلک یې هم د خپلو ښارونو له پاکۍ او ښکلا سره ډېره مینه لري، د ګوګړو یو خلی هم څوک بـې ځایه په لارو او کوڅو کې نه غورځوي، بلکې هر څوک یو کوچنی شی چې د نـیم سـوي سیګرټ په اندازه هم وي، په کثافت دانۍ کې اچوي.




- زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي. هره ډله دې له لاندې موضوعګانو څخه د یوې په باره کې له خپلې ډلې سره مشوره وکړي او بیا دې د هرې ډلې استازې خپله موضوع د ټولګي په وړاندې بیان کړي.
- ښاروالي څه دندې لري؟
- په لویو او کوچنیو ښارونوکې د ښاروالۍ دندې یو له بله څه توپیرونه لري؟
- موږ د خپل هېواد د پاکۍ، صفایۍ او سمسورتیا په اړوند څه مسؤولیت لرو؟

## بیلګه ییزې پوښتنې:

١- د ښاروالۍ غوره او د پام وړ دندې کومې دي؟

٢- په لویو ښارونو کې د ښاروالۍ اړوندې چارې ولې د ناحیو له خوا تر سره کېږي؟

٣- ښاري کثافت دانۍ د کوم مقصد لپاره دي؟

٤- تاسې چې ښه او پوه زده کوونکي یاست، د خپلو کورونو خځلې چېرته اچوئ؟

**له ټولګي څخه دباندې کار او فعالیت :**

د ښاروالۍ د دندو او د هغو په وړاندې زموږ او ستاسې د مسؤولیت په هکله یو څو کرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم لوست

# زموږ په هېواد کې لېږد راليږد (ترانسپورټ) او لارې


**موخې:**

- زده کوونکي دې له لېږد، راليږد او د هغه له وسايطو سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د هېواد د لويو لارو په باره کې معلومات ترلاسه کړي.
- زده کوونکي دې د تېر وخت او اوسني زماني د لېږد، راليږد وسايط يا وسايل و پېژندلای شي.

مخکې له دې چې د لېږد، راليږد اوسني وسايط جوړ شي، خلکو له يو ځای څخه بل ځای ته څه ډول تګ راتګ کاوه؟

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.

| | |
|---|---|
| جوخت | يووخت، يو ځای |
| ربړې | کړاچی |
| بېړۍ | کښتۍ |







په پخوا وختونو کې د لېږد، راليږد وسايط د نن ورځې د وسايطو په شان نه وو. خلکو به له يو ځای څخه بل ځای ته د خپلو مالونو د وړلو راوړلو لپاره له ځارويو لکه:خرو، آسانو، اوښانو، او کچرو څخه کار اخيسته.

په پخوا زمانوکې د نړۍ يو هېواد هم سرکونه نه درلودل. تګ راتګ او د مالونو وړل راوړل به له پخوانيو کړو وړو لارو څخه د ځارويو د کاروانونو په مرسته تر سره کېدل.

په ۱۲۸۲ هـ ش کال کې د لومړي ځل لپاره افغانستان ته موټر راوړل شو چې له هغه موټر څخه يوازې امير حبيب الله خان (د هغه وخت پاچا) ګټه اخيستله.

په هېواد کې د موټرونو له پيدا کېدو سره سم د سړک جوړونې کار هم پيل شو. د هېواد زياتره ولايتونه د سړکونو په وسيله سره ونښلول شول. کرار کرار يوزيات شمېر موټرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد ته راوړل شول. نن زموږ په هېواد کې ځمکنۍ او هوايي ډول ډول وسيلې شته لکـــه: رېړې، ګاډۍ، بايسکلونه، موټرسايکلونه، لارۍ، بسونه، ګړندي موټرونه، چورلکې او الوتکې چې له هر يوه څخه يې په خپل ځای کې کار اخيستل کېږي.

ترانسپورټ يا لېږد، رالېږد په يو هېواد کې د وينو شريانونو حيثيت لري. څومره چې يـــو هېواد ښه سړکونه او د لېږد، رالېږد وسايط ولري په همغه اندازه به د هغه هېواد اقتصاد هـــم پياوړی وي او خلک به يې زياتې ګټې لاس ته راوړي.




زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي. هره ډله دې له لاندې موضوعګانو څخه د يوې په هکله مشوره او خبرې وکړي او د ډلې استازي دې موضوع د ټولګي په وړاندې بيان کړي:

- د لېږد رالېږد پخواني وسايط او لارې
- د لېږد رالېږد اوسنۍ لارې او وسايط
- زموږ په ژوندانه کې د ترانسپورت ارزښت او اهميت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه ییزې پوښتنې:**

۱ – لومړنی موټر څه وخت افغانستان ته راوړل شو؟
۲ – په پخوا وختو نو کې د لېږد رالېږد لپاره ولې خلکو له څارویو څخه کار اخیسته؟
۳ – زموږ په هېواد کې له کوم وخت څخه راپه دې خوا د سړک جوړونې کار پیل شو؟
۴ – د عصري ترانسپورت د وسایلو ګټورتوب څه شی دی؟
۵ – له عراده جاتو (ګاډی، موټرو) څخه کار اخسیتنې د هېواد د ترانسپورت په برخه کې څه بدلون منځ ته راوړ؟



**له ټولګي څخه دباندې کار او فعالیت :**

۱– زده کوونکي دې د هغو سیمو نومونه واخلي چې تر اوسه پورې سړک نه لري او سړک ته زیاته اړتیا لري.

۲– د ۷۳ یم مخ د نقشې له مخې د هېواد د لویو لارو نقشه وکاږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

# ۳- اقتصادي فعالیتونه

## کرنه

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| توکي | مواد ، شیان |
| اوربنت | وربدل، باران |
| پرتله | مقایسه |

**موخې :**

- زده کوونکي دې له کرنې سره آشنا شي
- زده کوونکي دې د کرنې په چاروکې ونډه واخلي
- زده کوونکي دې د کرنې او د هغې د حاصل له لوړیدو سره مینه پیدا کړي

- د کرنیزو ځمکو له درلودلو سره سره ولې خوراکي توکي له نورو هېوادونو څخه راوړو؟
- څرنګه کولای شو کرنیز حاصلات لکه غلې، مېوې او داسې نور، زیات کړو؟

افغانستان یو کرنیز هېواد دی. ډېر خلک یې له پخوا زمانو را هیسې د کرنې په چارو بوخت دي. د هېواد د مساحت کابو $\frac{۱}{۵}$ برخه کرنیزو ځمکو نیولې ده. خو د کیمیاوي سرو او نباتي آفاتو د درمل د نه استعمال له کبله یې غله، مېوه او ګته مخ په کمېدو ده. نه یوازې دا چې د نړۍ د نورو هېوادو په پرتله، بلکې په ځانګړې توګه د ګاونډیو هېوادونو په پرتله یې حاصل ډېر کم دی. له همدې امله هر کال یوه زیاته اندازه غنم، وریجې او داسې نور خوراکي توکي له بهرنیو هېوادو څخه هېواد ته راوړل کېږي.

زموږ په هېواد کې د کرنې د حاصلاتو د کمېدو لاملونه:

- په ورستیو لسیزو کې د پوره او بشپړ امنیت نشتوالي
- **ناوړه طبیعي عوامل لکه:** زلزلې، پر له پسې وچکالۍ، سیلابونه، ږلۍ، د بوټو ناروغۍ او داسې نور
- په ځمکه کې بوټو ته د ودې ورکولو د ځواک کمېدل، د حیواني او کمیاوي سرې نه کارول
- د کرنې له پخواني سیستم څخه کار اخیستل
- کرنیزو چاروته د لویو ځمکه والو لاس نه رسېدل



SS(P)0507

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې چې ډول ډول اقليم او اوبه او هوا لري له هغه سره سم د اصلاح شوو تخمونو نه ټاکل
- د بزگرانو بې وسي او د ترياکو کرل
- ........................
- ........................

په دې وروستيو وختونو کې چې په هېواد کې د واورې او اوربښت اندازه کمه شوې وه د سيندونو، کاريزونو، چينو او څاگانو اوبه هم ورسره کمې شوې وي. دغو پرله پسې وچکاليو پر کرنه او مالدارۍ باندې ډېر بد اغېز وکړ. کرنيز او د مالدارۍ حاصلات يې تر وروستي بريد پورې راټيټ کړل.





همدارنگه د پورتنيو عواملو په له منځه وړلو، د اوبو د بندونو او ويالو په کيندلو، د شاړو ځمکو په آبادولو، د کرنې له ماشينونو څخه په کار اخيستلو، له سيمې سره سم د اصلاح شوو تخمونوپه رواجولو، د کيمياوي سرې په کارولو، د بزگرانو تر منځ د همکارۍ د هڅو په پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو، د بوټو د ناروغیو په خلاف مجادله کولو او داسې نورو کارونو په ترسره کولو ســره کولی شو چې کرنیز حاصلات لوړ کړو.
تر هرڅه دمخه د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي لپاره بشپړ امنیت او سولې ته اړتیا ده، ځکه چې له سولې پرته د کرنې چارې په ښه توګه پر مختګ نشي کولای.




**د ډله ییز کار له لارې تش ځایونه په غور سره بشپړ کړئ.**

ځرنګه کولای شو چې کرنیزې چارې جوړې او حاصلات لوړ کړو؟

- د کرنې مکانیزه کول او د کرنې له ماشین آلاتو څخه ګټه اخیستل
- د هرې سیمې له اوبو او هوا سره سم د اصلاح شوو تخمونو کارول
- د اوبو لګولو د چارو سمون او د ویالو او بندونو جوړول
- ؟
- ؟
- ؟

## ښېګڼه ییزې پوښتنې:

لاندې پوښتنې په ډله ییز کار کې ځواب کړئ:

۱ – د افغانستان مساحت ۶۵۲۲۲۵ کیلومتره مربع دئ. $\frac{۱}{۵}$ برخه یې د کرنې وړده، وواياســت چې څومره ځمکه نه کرل کېږي؟

۲ – د کومو لاملونو له مخې زموږ کرنیز حاصلات کم دي؟

۳ - سوله د کرنیزو حاصلاتو په زیاتوالي کې څه اهمیت لري؟

**له ټولګي څخه د باندې کار او فعالیت:**
ستاسې په ځای کې څه ډول کرنه کیږي. د خپلو لویانو په مرسته یې نمونه ترتیب او په ټولګي کې یې وواياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیارلسم لوست



# غلې

**موخې:**

- زده کوونکي دې د غلو له ډولونو سره آشنا شي .
- زده کوونکي دې د غلو ډولونه یو له بله  ځخه توپیر کړای شي.
- زده کوونکي دې د کرنې په چاروکې له وندې اخیستلو سره مینه پیداکړي.

– ستاسې په سیمه کې څه ډول غلې کرل کېږي؟
– زموږ په هېواد کې څو ډوله غلې کرل کېږي؟
– بقول (حبوبات) یعنې څه؟ اوله هغې ځخه څنګه ګټه اخیستل کېږي؟

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره بلد شئ.**

| | |
|---|---|
| ونډه | برخه |
| اوبیز | آبي |
| ټانټه | د جوار تنه |
| چاپېریال | محیط |
| چنې | نخود |



زموږ ګران هېواد افغانستان د راز راز او مناسبو اوبو او هوا د درلودلو له کبله هر ډول غلې لري چې دلته یې د ځینو یادونه کوو:

- **غنم:** د غنمو اوړه زموږ د هېواد دخلکو اصلي خواړه تشکیلوي. په دوه ډوله کرل کېږي. یویې اوبیز او بل یې للمي.

**الف– اوبیز غنم:** په ټولیز ډول اوبیز غنم د کال په دوو وختونو کې کرل کېږي. یو ډول یې په پسرلي کې او بل ډول یې په مني کې چې سیندونو، کاریزونو او چینو ته په نږدې ځمکو کې کرل کېږي. واښه (بوس) یې د ځارویو خوراک او په ودانیو کې کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب: للمي غنم:** للمي غنم زياتره د غرونو په لمنو او لږ اوبه لرونکو دښتو کـــې کـــرل کېږي.

- **جوار**: جوار زموږ په هېواد کې له غنمو څخه وروسته په دويمه درجه کـــې راځـــي. جوار زموږ د هېواد په زياترو سيمو کې د انسانانو خواړه جوړوي. همدارنګه د هغوی له ټانټو، پاڼو او دانو څخه د څارويو په خوراک کې ګټه اخيستل کېږي.
- **شولې يا وريجې:** وريجې له غنمو څخه وروسته د لګښت له مخې زموږ دخلکـــو د خوراک د پام وړ برخه جوړوي. زموږ په هېواد کې وريجې دوه ډوله دي. نرۍ وريجـــې او غټې وريجې.
- **وربشې:** په افغانستان کې د وربشو بېلابېل ډولونه د دوو موخو لپاره کرل کېږي. يو يې د انسانانو د خوراک او بل يې د څارويو په خوړو کې کارول کېږي.

**بقول، غلې دانې (حبوبات)**: بقول زموږ په هېواد کې له لوبياوو، چڼو، ميو، نسکو، باغلي يا باقلي، مشنګو او شاخلو څخه عبارت دي، چې د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې کرل کېږي.

د دوی له ځينو ډولونو (لوبياوو، چڼو، نسکو، ميو، باقلي او مشنګو) څخه خلک قطغ تياروي. له شاخلو څخه د څارويو په خوراکه کې ګټه اخيستل کېږي.

همدارنګه د هېواد په ځينو سيمو کې صنعتي بوټي لکه: پنبه، چغندر، ګني او تيل لرونکي بوټې لکه: کونځلې، شرشم، زغر او داسي نورو کرنه رواج لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د زده کوونکو هره ډله دې له لاندې حبوباتو څخه د ګټې اخیستنې په باب یو څه ولیکي او بیا دې د دوی نماینده هغه په ټولګي کې ووایي.

- غنم:
- وریجې:
- جوار:
- لوبیا، چنې او مې:

## ښېلګه ییزې پوښتنې:

۱ – په هېواد کې د سولې تأمین په کرنیزو تولیداتو باندې څه اغېز لري؟

۲ – د غلو د ډولونو نومونه واخلئ.

۳ – د بقول نوم واخلئ او ووایاست چې په ټولیز ډول څو ډولونه لري؟

**له ټولګي څخه د باندې کار او فعالیت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د هغو غلو دانو لست چې ستاسې په ځای کې کرل کېږي جوړ او سبا یې په ټولګي کې ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوارلسم لوست

# مېوې

**موخې:**

- زده کوونکي دې د مېوو په هکله ګټور معلومات تر لاسه کړي.
- زده کوونکي دې د باغونو د ساتلو ورتیا او مهارت پیدا کړي.
- زده کوونکي دې له ونو څخه په سمې ګټې اخیستنې باندې وپوهیږي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| ښون | زیتون |
| متخصصین | کار پوهان |
| ویټامین | هغه ګټور مواد چې په مېوو او حبوباتو کې موجود وي او د انسان بدن ورته اړتیا لري. |
| مهارت | په کار کې پوهه، بلدتیا، وړتیا. |

- ستاسې په سیمه کې څو ډوله مېوې شته؟
- مېوې زموږ په ژوندانه کې څه ارزښت لري؟
- په څه ډول د بڼونو یا باغونو د حاصلاتو اندازه زیاتولی شو؟



د افغانستان او بـــه او هـــوا د بڼوالۍ یا باغوالۍ لپاره وړ دي. زمــوږ ډېر شمېر خلک د بڼوالۍ په چـــاروکې لګیا دي.د ډول ډول مېوو باغونـــه د هېواد په ګوټ ګوټ کې تر ســـترګو کېږي. مېوې د ویټامینونو ســـرچینه ده او له مهمو کرنیزو پیـــداوارو څخـــه شمېرل کېږي چې په کورنیو اړتیـــاوو سر بیره یوه اندازه یې بهرنیو هېوادونو ته هم لېږدول کېږي.





(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان ځینې مېوې د یادولو وړ دي، لکه: انګور، مڼې، ناک، انار، آلو، آلوبـــالو، شفتالو، آلوبخارا، ګیلاس، توت، بادام، پسته، جنغوزي، اینځر، ښون، بهي، سنځلې، خټکي، هندوانې، نارنج، لیمو، مالټې، سنترې، کینو، او داسې نور.

افغاني مېوې چې د خوند، ډول او جنس له مخې په نړۍ کې ساری نه لري  په هر کال کې یوه زیاته برخه څه تازه او څه وچه بهرنیو هېوادو ته لېږل کېږي.

د باغونو د حاصلاتو د زیاتوالي لپاره دې د غو لاندې ټکو ته پاملرنه وشي:

- د کرنې د ماهرینو او تجربه لرونکو کسانو نظریې دې په پام کې ونیول شي.
- په مناسبو وختونو کې دې  ښاخونه پرې او درمل دې ور باندې وشیندل شي.
- په سم وخت کې دې ونو ته اوبه ورکړل شي.
- په پسرلي کې دې په مهارت سره د ونو بیخونه په یوم واړول شي او د کرنې د پوهانو له نظر سره سم دې سره وکارول شي.
- د باغ لرونکو تر منځ دې د همکارۍ روحیه پیاوړې شي.

**په ټولګي کې کار او فعالیت**



**د هرې ډلې استازی دې د خپلې ډلې نظریه: (څه ډول کولای شو چې د مېوه لرونکو ونو حاصلات لوړې کچې ته ورسوو) له مشورې سره سم په ټولګي کې ولولي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه ييزې پوښتنې:**

۱– کوم ډول مېوه تر نورو د مخه پخېږي؟

۲– زموږ د هېواد کوم ډول تازه مېوې بهرنيو هېوادونو ته ليږل کېږي؟

۳– کومې وچې مېوې بهرته لېږل کېږي؟

۴– مېوې د څه شي سر چينه بلل شوې ده؟

۵– د ونو پيوندول څه ګټه لري؟

۶– د کرنې د ماهرينو او تجربه لرونکو خلکو له نظريو او لارښوونو څخه کار اخيستل د ښوالۍ په چارو کې څه ګټه لري؟

۷– فکر وکړئ او ځواب وواياست:

سوله د ښوالۍ لپاره څه ګټه لري؟

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د هغو مېوه لرونکو ونو لست جوړ کړئ چې ستاسې په سيمه کې شته او سهار يې په ټولګي کې ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځلسم لوست

# سابه

**موخې:**


- زده کوونکي دې د سبو ډولونه وپېژني.
- زده کوونکي دې له سبو څخه د ګټې اخيستنې مهارت او وړتيا پيدا کړي.
- زده کوونکي دې د سبو له حياتي ګټو سره مينه پيدا کړي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| حياتي | د ژوند کولو يا ژوند نيز |
| ويټامين | ګټور او ارزښت لرونکي مواد چې په خوړو، مېوو او درملو کې موجود دي. |
| ټيپر | شلغم |
| پېښی | رواش |
| شپېشتي | رشقه |

- ستاسې د اوسېدو په ځای کې څو ډوله سابه کرل کېږي؟
- د سبو حياتي او اقتصادي اهميت څه شی دی؟

سابه هم د مېوو په څېر د ويټامينونو سرچېنه ده. هغه سابه چې زموږ په هېواد کې کرل کېږي ځينې يې دا دي: کچالو، تور بانجان، سره بانجان، ګازرې، ټيپر، مولۍ، پياز، هـــوږه، کدو، بادرنګ، تورۍ، کرم، ګلپي، بېنډۍ، کاهو او داسې نور. زموږ په هېواد کې ځينې طبي بوټي شته لکه: غرنی پياز، غرنۍ هوږه، پېښي، زنکۍ، ترخه، هېنجـــه، بارتنـــګ، ســـپغول، خاکشير، باديان، شينګولی، خوږه ولې او داسې نور چې يا په طبيعي ډول شنه کېږي او يا هم د بزګرانو له خوا کرل کېږي.



د يادونې وړ ده چې شوتله او شپېشتي زموږ په هېواد کې رواج دي اوپه عمومي توګـــه څارويو ته تازه او هم وچې (د بېدې) په ډول ورکول کېږي. شوتله او شپېشتي له هوا څخـــه نايتروجن اخلي او خاورې ته يې ورکوي. په دې توګه مځکه راتلونکي کال کې د کرنې لپاره تقويه او پياوړې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ باید هره ورځ د سبو زیاتره برخه یا اومه او یا هم پاخه، وخورو. ځکـه چـې سـابه د ویټامینونو سرچینه ده او زموږ د وجود د روغتیا او سلامتیا لپاره ډیر ګټور دي.




**زده کوونکي دې د ښوونکي تر نظر لاندې په ډلو وویشل شي. د لاندې مطلبونو په هکله دې یو له بل سره وغږیږي او بیا دې د هرې ډلې استازي د خپل ګروپ (ډلې)نظر په ټولګي کې ووایي.**

- **د سبو حیاتي او اقتصادي ارزښت**
- **د طبي بوټو اقتصادي ارزښت**

## بیلګه ییزې پوښتنې:

١ – سابه د څه شي سر چینه ده؟
٢ – د سبو د ډولونو نومونه واخلئ؟
٣– کوم سابه پاخه خوړل کېږي؟
۴– کوم ډول سابه اومه او پاخه خوړل کېږي؟
۵– طبي بوټي له اقتصادي پلوه څه اهمیت لري او ولې؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

**د لویانو په مرسته د هغو سبو او طبي بوټو لست چې ستاسې په سیمه کې پیدا کیږي، ترتیب او سباته یې په ټولګي کې ووایاست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست

# ځاروي

**موخې:**


- زده کوونکي دې د ځارویو له ډولونو سره څه ناڅه آشنا شي
- زده کوونکي دې کورني یا اهلي ځاروي له داړونکو یا وحشي حیواناتو (ژویو) څخه بېل کړای شي
- زده کوونکي دې ځاروي و نه ځوروي

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| مرز | کرک، بودنه |
| بېلګه | نمونه، مثال |
| صحرایي | دښتي، سارایي |
| ژوي | ځاروي، ساکښ |

- ستاسې په ځای کې څو ډوله اهلي ځاروي شته؟
- ستاسې د سیمې په غرونو کې کوم ډول داړونکي او وحشي ژوي ژوند کوي؟
- د ځارویو روزنه زموږ په کورني اقتصاد کې څه ارزښت لري؟







زموږ ګران هېواد افغانستان د ښو او په زړه پورې شرایطو په درلودلو ډول ډول اهلي او غرني ژوي او ځاروي لري. اهلي ځاروي: پسه، غوا، اوښ، آس، وزه، کچره، خر او داسې نور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحشي او غرني ژوي پړانګ، زمری، لېوه، ګوره خر، غژګاو، هوســـي، ســــورلنډۍ، ګیدړ، سویه، بیزو، شکونړ او داسې نور دي.

همدارنګه زموږ په هېواد کې کورني مرغان لکه: چرګان، هیلۍ، فیلمرغ، کوتره او په همدې ډول وحشي یا غرني الوتونکي لکه زرک، دښتي مرغه، چوغکه، مرز، سیسی، کوتنه، بلبل، طاوس، زاڼه، کارغه، باښه، تیپوس، توتي، باز، ګربت او داسې نور شته.

زموږ په هېواد کې خلک له اهلي خاارویو څخه د کرنې په چارو لکه: یـــوې کولـــو، څپرکولو، د شیانو او بارونو په وړلو او راوړلو کې ګټه اخلي او همدارنګه هغـــوی د نــــورو محصولاتو لکه: شیدو، کوچو، غوړیو، خیدکو (پوڅې) او داسې نورو په خاطر روزي.

سوله نه یوازې د انسانانو لپاره یو اړین کار دی، بلکې د خاارویو لپاره هم ګټوره ده، ځکه که چېرې سوله نه وي، د خاارویو نسل هم مخ په کمېدو او ورکیدو درومي.




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په  ډلو ووېشل شي او د لاندې مطلبونو په هکله دې یو له بله سره بحث وکړي. بیا دې د ټولګي استازي دخپلې ډلې نظر ټولګي ته وړاندې کړي.

- د اهلي خاارویو اقتصادي ارزښت
- د داړونکو خاارویو اقتصادي ارزښت

**بېلګه ییزې پوښتنې:**

۱ – ستاسې په سیمه کې څه ډول اهلي خاروي روزل کېږي؟ نوم یې واخلئ.

۲ – ستاسې د سیمې په غرونو کې کوم ډول داړونکي خاروي ژوند کوي؟

۳– د اهلي خاارویو د ډولونو نومونه واخلئ؟

۴– د وحشي یا داړونکو خاارویو د ډولونو نومونه واخلئ

۵– کورني او ساراني الوتونکي یو له بله سره څه توپیر لري؟

**له ټولګي څخه دباندې فعالیت:**

د لویانو په مرستې سره د هغو ټولو وحشي او اهلي خاارویو او ژویو لست چې ستاسې په سیمه کې پیدا کیږي، ترتیب او ټولګي ته یې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوولسم لوست

# مېږې او پسونه

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.

| لاس ماغو | لاس ماغه ، دستکش |
|---|---|
| وژغني | د وزو وبښتان |
| خيدک | د پنير يو ډول |

**موخې:**

- زده کوونکي دې د پسونو له ډولونو سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې پسونه ښه وروزلی شي.
- زده کوونکي دې د پسونو له اقتصادي او غذايي ګټو سره مينــه پيدا کړي.

- ستاسې په سيمه کې څو ډوله پسونه شته؟
- د پسونو روزنه زموږ په ژوندانه کې څه ارزښت لري؟



د افغانستان اوبه او هوا او د ځمکې جوړښت د پسونو د روزنې لپاره ډېر په زړه پورې دي. له همدې کبله د افغانستان خلک د کرنې تر څنګ د څارويو په روزنه هم بوخت دي.

خو زموږ د هېواد کوچيان په بشپړه توګه د مالدارۍ په چارو بوخت دي. هغوی په ژمي کې تودو ځايونو ته او په پسرلي او اوړي کې د سړو سيمو ورشوګانوته ځانونه رسوي.

عموماً د سيمه ييزو پسونو مختلف ډولونه، لکه: قره قل، هزاره ګي، بلوچي، ترکي (قطغني)، هراتي، بادغيسي، غلجايي(کندهاري) او داسې نور زموږ په هېواد کې روزل کېږي.

د پسونو روزنه او ساتل په هېواد کې د اقتصادي خوراکي موادو او د سوداګرۍ لپاره ډېـــر ارزښت لري، ځکه چې:

- د هغو له وړيو څخه په فابريکو او کورونو کې غالۍ، ټغر، جاکټونه، کمپلــې، لاس ماغي، جرابې، او نور ټوکران جوړوي او يو شمېر يې هم بهرته صادرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د قره قل پوستکي په سوداګرۍ کې ډېر ارزښت لري او د هېواد لــه ډېـــرو مهمـــو سوداګریزو توکو څخه شمېرل کېږي.
- د هغو له غوښو څخه ګټه اخیستل کېږي.
- د هغو له شیدو، مستو، کوچو، پېروي او خیدک څخه چــې د ویټــامینو، پروټینـــو اوداسې نورو غټه سر چینه ده، ډېره ګټه تر لاسه کېږي.
- د هغوی کولمې بهرته لیږل کېږي.
- ...........
- ...........

په هېواد کې د پسونو په روزولو سربېره وزې هم د هېواد په ټولو برخو په تیره بیا د هېواد په غرنیو سیمو کې روزل کېږي چې له غوښو، وړغنو، شیدو او مستو څخه یې ګټه اخیـــستل کېږي.

د پسونو د روزنې په برخه کې همېشه باید د حیواني کلینیکونو د موظفینو له مـــشورو او لارښوونو څخه ګټه واخلو او په مناسبو وختونو کې حیواني درمل د پسونو د روغتیـــا لپـــاره وکاروو او همدارنګه د ښه نسل رواجولو او ډېرولو ته پاملرنه وکړو.




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په څو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د لاندې مطلبونو په هکله سره وغږېږي او بیادې د هغوی استازي دخپلې ډلې نظر نوروته په ټولګي کې ووایي.

- د پسونو اقتصادي ارزښت
- د پسونو خوراکي ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بيلگه ييزې پوښتنې:**

١- ډېر سم ځواب غوره کړئ.

- لبنيات چې د ويټامينونو سرچېنه ده، عبارت دي له:

الف: کوچ، پنير، پيروي.

ب: مستې، شيدې

ج: الف او ب دواړه سم دي.

د: هېڅ يو

٢-د پسونو اقتصادي ارزښت عبارت دی له:

الف: د هغو له وړيونه غالۍ، ټغر او وړين ټوکران جوړيږي.

ب: د دوی له لبنياتو څخه گټه اخيستل کېږي.

ج: د هغوی له پوستکي نه په څرمنيز (چرمگري) صنعت کې کار اخيستل کېږي.

د: ټول سم دي.

٣- کله چې پسونه ناروغه شي، څه بايد وکړو؟

۴- څه ډول کولای شو چې د خپلو پسونو شمېر زيات کړو؟

**له ټولگي دباندې فعاليت:**

**د خپلو لويانو په مرسته د پسونو د خوراکي ارزښت په هکله يو مطلب ترتيب او سبا ته يې په ټولگي کې وواياست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتلسم لوست

# غوا گاني او غوايان

**موخې :**
-زده کوونکي دې د غواګانو او غويانو په اقتصادي ارزښت باندې وپوهيږي.
-زده کوونکي دې له غواګانو څخه د ګټې اخيستنې سمې او معقولې لارې پيــدا او تشخيص کړای شي.
-زده کوونکي دې د غواګانو له سمې روزنې اوښه نسل سره مينه پيدا کړي.

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.

| | |
|---|---|
| مندوه | د غويي د مغزي په پاي کې لوړه برخه (کوهان) |
| سويل | جنوب |
| مېښه | ګاومېښه |
| غوجل | د کورنيو ځارويو د اوسيدو ځای |


– د غواګانو روزنه زموږ په کورني اقتصاد کې څه ارزښت لري؟


غواګاني او غوايي د هېواد په زياترو ځايونو کې د دوو مقصدونو لپاره روزل او ساتل کيږي.

۱– د هغو د محصولاتو، لکه: غوښو، شيدو، مستو، کوچو، پوڅې، کورتــو، شــړومبو او پوستکي په مقصد.

۲– د کرنې د ځمکو د يوې کولو او د بارونو د وړلو او راوړلو په مقصد.

غوايان اوغواګاني مختلف او جلا جلا ډولونه لري، لکه: مندوه لرونکي چې د هېواد په سويل ختيځو او سويل لويديځو سيمو کې روزل کېږي.
مېښې او غژ ګاو د هېواد په شمال ختيځ (پامير) کې پيدا کېږي او وطني غواوې چې د هېواد په هر ګوټ کې روزنه مومي او ساتل کېږي.





غوا او غويي په کورني اقتصاد کې ډېر ارزښت لري. له دې کبله بايد د هغــو خــوراک او غوجل ته زياته پاملرنه وشي. يعنې په ټاکلي وخت خواړه او اوبه ورکړل شي او غوجــل يــې

SS(P)0507

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــره ورځ پاکه شي. د امکان تر پولې پورې دې کوښښ وشي چې غوجل يې مخ په لمر وي او نم ونه لري. کله چې غواوې او غوایان ناروغ شي هرو مرو باید د څارویو کلنیک ته یوړل شي.




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو وویشل شي او د لاندې مطلبونو په هکله دې سره وغږیږي او استازي دې د خپلې ډلې نظر په ټولګي کې بیان کړي.

- د غوا او غویي ارزښت او اهمیت په کورنۍ کې.
- د غوا او غویي د نسل د زیاتېدو لارې چارې.

**بیلګه ییزې پوښتنې:**

۱– د سمو جملو په وړاندې د (ص) توری او د غلطو جملو په وړاندې د (غ) توری ولیکئ.

– د افغانستان اوبه او هوا د غوا او غويي د روزنې لپاره ښه دي. (     )

– غوا او غويي د هغو د محصولاتو لکه:غوښې، شیدو، پیروې، پنیرو، مستو، کوچو او کروتـــو په خاطر ساتل کېږي. (     )

– غوایان د کرنې د ځمکو د یوې کولو او بارونو د وړلو راوړلو په خاطر ساتل کېږي. (     )

– غژګاو د افغانستان په مرکزي سیمو کې ساتل کېږي. (     )

– که چېرې د غوا او غويي د اوسیدو ځای مخ په لمر وي ښه به وي. (     )

– د غوا او غویانو د ناروغتیا په وخت کې باید حیواني کلینیکونو او تجربه لرونکو کسانو تــه مراجعه وشي. (     )

۲– مندوه لرونکي غواوې او غوایان د هېواد په کوم ځای کې ساتل کېږي؟

۳– غژ ګاو د هېواد په کومو سیمو کې روزل کېږي؟

**د ټولګي د باندې فعالیت:**

د غوا وو اوغوایانو د اقتصادي ارزښت په هکله یو مطلب ترتیب او په ټولګي کې یې ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

# آسپې او آسونه

**موخې:**
- زده کوونکي دې د آس په هکله څه ناڅه معلومات پیدا کړي.
- زده کوونکي دې د آسونو ښه جنس وپیژني.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| پاملرنه | توجه |
| اهلي | روږدي، کورني |
| غړی | اندام، عضو |
| چټکوالی | تیزي |
| وزلوبه | بزکشي |
| ځانګړنې | خصوصیات |

- ستاسې په ځای کې آسونه روزل کېږي او که نه؟
- ستاسې په سیمه کې آسونه د څه لپاره روزل کېږي؟

په افغانستان کې آسونه له پخوا څخه د پاملرنې وړ وو او ګټه ترې اخیستل کېده. د تاریخ د معلوماتو په بنسټ ویلی شو آریایان لومړني خلک وو چې آس یې اهلي کړ.

زموږ په هېواد کې په عمومي توګه درې ډوله آسونه موجود دي:





**الف: قطغني:** دغه جنس زیاتره د تخار، کندز، فاریاب او بلخ په ولایتونو کې روزل کېږي. دغه جنس ښکلي او متوسط غړي لري، ګړندي او قهرجن دي.

**ب: ترکمني (مزاري):** دغه جنس زیاتره د مزار شریف او قطغن په شاو خوا کې پیدا کېږي او د قطغني جنس په پرتله غټ او جګ دي.

**ج: هراتي:** دغه جنس یوازې د سپرلۍ لپاره دي. ښکلي اندامونه او په زړه پورې تګ لري. د قطغني جنس په پرتله یې چټکوالی او بدخويي لږه ده. ملا، خټه، پښې او مغزی یې اوږده دي.

له آسونو څخه په عمومي توګه په سپرلۍ، وزلوبې، ګاډۍ اونېزه بازۍ کې کار اخیستل کېږي. هغه آس چې د درنو بارونو په وړلو او راوړلو کې ورڅخه کار اخیستل کېږي، د ټټو (یابو) په نامه یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسونوته باید خواړه په لوړ آخور کې ورکړل شي. د اوسېدو ځـــای یـــې بایـــد پـــاک وي. همدارنګه د دوی په روزنه او د نسل د ښه کېدو لپاره د نظر له خاوندانو او د ځـــارویو لـــه ډاکټرانو سره وخت په وخت خبرې او مشورې وشي او د دوی نالونو (نعلونو) تـــه همېـــشه پاملرنه وشي.




د ښوونکي تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو ووېشل شي او د هرې ډلې استازي دې د لاندې مطلبونو په باره کې خبرې وکړي.
- لومړۍ ډله دې د قطغني آسونو او د هغوی د ځانګړتیاوو په هکله
- دويمه ډله دې د مزاري آسونو د جنس او ځانګړتیاوو په باره کې
- دريمه ډله دې د هراتي جنس د آسونو او د هغوی د ځانګړتیاوو په باره کې

## ښيلګه ييزې پوښتنې:

د سمو جملو په وړاندې د(ص) توری اوغلطو جملو په وړاندې د (غ) توری ولیکئ.

۱- د تخار، بدخشان، کندز او بغلان ولايتونه يې پخوا د قطغن په نامه يادول(ص).

۲- د سمنګانو، مزار شريف، فارياب، شبرغان او سر پل ننې ولايتونه يې د ترکستان پـــه نامـــه يادول.(ص)

- قطغني جنس آسونه د تخار، کابل او غزني په ولايتونو کې ساتل کېږي. (     )
- مزاري جنس آسونه د مزارشريف او قطغن په سيمو کې روزل کېږي. (     )
- له آسونو څخه د مالونو او بارونو په وړو راوړو او ګاډۍ کې کار اخيستل کېږی. (     )
- وزلوبه زموږ د هېواد د شمالي ولايتونو د اوسيدونکو يو دود دی. (     )
- (نيزه بازي) ځانګې وهل په غزني او پکتيکا کې رواج لري. (     )

فکر وکړئ او سم ځواب ووايئ.

- د آس اخور ولې جګ جوړوي؟
- له موټر، موټر سايکل او بايسکل څخه ګټه اخيستنه د آسونوپه ساتنه او روزنه باندې څه اغېزه لري؟

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د وزلوبې په هکله يو مطلب جوړ کړئ او ساته يې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست


# اوښې او اوښان

| موخې : |
|---|
| - زده کوونکي دې د اوښانو په هکله معلومات تر لاسه کړي. |
| - زده کوونکي دې د اوښانو د ښه ساتلو مهارت پیدا کړي شي. |

له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ

| | |
|---|---|
| چابک | تیز ، چټک |
| مقاومت | ټینگار ، حوصله |
| بشپړ | مکمل، پوره |

- د افغانستان په کومو سیمو کې اوښان زیات ساتل کېږي؟
- له اوښانو څخه څه گټې تر لاسه کېږي؟



اوښان له ډېر پخوا څخه په افغانستان کې د سوداگرۍ د مالونو د وړو راوړو په خاطر ساتل کېدل. زموږ په هېواد کې دوه ډوله اوښان موجود دي. یو یې یو مندو او بل یې دوه مندوه لري. یو مندولرونکي اوښان چې د عربي په نامه هم شهرت لري، د دوه مندوه لرونکو په پرتله قوي او پیاوړي دي او زیات کار ترې اخیستل کېږي.

دوه مندوه لرونکي اوښان د بلخي (بختي) په نامه هم یادوي او د یومندو لرونکي په پرتله ډېر گړندي دي.

څرنگه چې اوښان د خوړو او اوبو د کموالي په وړاندې زیات مقاومت لري، نو همدا سبب دي چې هغوی ته یې د دښتې د کښتۍ لقب ورکړی دی. کوم وخت چې د سوداگرۍ کاروانونو د هند، چین او اروپا تر منځ تگ راتگ کاوه له افغانستان څخه به د وریښمو له مشهورې لارې څخه تېریدل او له اوښانو څخه به یې کار اخیسته. نن ورځ د عصري نقلیه وسایطو د زیاتوالي له کبله د هغوی ارزښت کم شوی او یوازې کوچیان د خپلو بارونو د وړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړو لپاره له هغوی څخه کار اخلي او هم یې له وړیو، پوستکي او غوښو څخه ګټه اخیستل کېږي. د اوښانو د ښه نسل د ډېریدو، رواجولو او ساتلو په خاطر لازمه ده چې هر وخت د تجربه لرونکو کسانو او د څارویو د کلینیکونو د ډاکترانو د نظریو او مشورو څخه ګټه واخلو.





**د افغانستان په کومو سیمو کې د اوښانو ساتل رواج لري. هره ډله دې په دې برخه کې یو تر بله سره مشوره وکړي. بیا دې د هرې ډلې مشر د خپل ګروپ نظر نورو ته واوروي. نور دې غوږ ورته ونیسي. په پای کې دې ښوونکی صاحب د هغوی نظرونه بشپړ کړي.**

**بېلګه ییزې پوښتنې:**

**تش ځایونه په مناسبو جملو سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**

– په افغانستان کې ........ ډوله اوښان ........ او ........ شته.
– په افغانستان کې اوښان د ........ په خاطر ساتل کېږي.
– دوه مندوه لرونکي اوښ ته ........ وايي.
– اوښ د ........ او ........ د کموالي په وړاندې ډېر مقاومت لري.
– د اوښ له ........ او ........ څخه ګټه اخیستل کېږي.
– کله چې اوښ ناروغ شي نو د څارویو ........ کلینک ته یې یوسو.
–د ........ زیاتوالي د اوښانو ارزښت کم کړیدي.
– کوچیان له ........ څخه د خپلو ........ له یو ځای څخه بل ځای ته په وړو راوړو کې کار اخلي.
–په پخوا زمانو کې به چې د سوداګرۍ کاروانونو مالونه د وریښمو د مشهورې لارې څخه وړل او راوړل، په هغه کې د ........ کار اخیستل کیده.



**د ټولګي دباندې فعالیت:**

**د لویانو په مرسته د اوښ د ارزښت په هکله یو مطلب ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوويشتم لوست

# لاسي صنايع

**موخې:**

- د هېواد له لاسي صنايعو سره د زده کوونکو آشنا کول.
- زده کوونکي دې د لاسي صنايعو ډولونه يو له بلــه څخــه بيل کړاي شي.

**له لاندې لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| له بده مرغه | بدبختانه |
| لټول | لټون ، پيدا کول |

- لاسي صنايع يعنې څه؟
- لاسي صنايع په کورني اقتصاد کې څه ارزښت لري؟
- سوله د لاسي صنايعو په پرمختگ کې څه اغېزه لري؟

د سپکو صنايعو په ډله کې د نساجي، سپېسيو اوبدلو صنعت، د گنډنې صنعت، د وړۍ اوبدلو صنعت، د څرمن گنډلو صنعت او نور شامل دي. د دې صنايعو زياته برخه نيغ په نيغه د خلکو د ژوندانه د اړتياوو د لرې کولو لپاره کارول کيږي).

سپکې صنايع له کرنې او مالدارۍ سره نږدې اړيکې لري، ځکه چې د سپکو صنايعو زيــاتره اومه مواد لکه: پنبه، زغر، کتان، کنف او داسې نور له نباتاتو (بوټو) څخه او څـــرمن، وړۍ، ورېښم او داسې نور له حيواناتو څخه لاسته راځي.

زموږ په هېواد افغانستان کې د اوبدلو بېلا بېل ډولونه لکـــه: (نخـــي، پـــشمي، وريـــښمين منسوجات) (غالۍ، ټغر، شطرنجي، لنگۍ، پوزي، ليمڅي) اوبدل او داسي نور موجود دي. له بده مرغه په دې وروستيو کلونو کې په هېواد کې د امن د نشتوالي له کبله نه يوازې داچـــې لاسي صنايعو پر مختگ ونه کړ، بلکې مخ په کميدو شول. له دې کبله پـــه هېـــواد کـــې د هميشنۍ سولې ټينگښت، يووالي او د تجربو او نظريو شريکول د صنايعو د پرمختـــگ لاره پرانيزي، تر څو له يوې خوا لاسي صنايع وده وکړي او له بلې خوا د هغوی لپاره د خرڅلاو بازار چې ډېر مهم دی، ولټول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو وویشل شي د لاندې موضوعګانو په هکله دې خبرې سره وکړي او وروسته دې د هغوی استازي د خپلې ډلې نظر وړاندې کړي.

- لاسي صنایع او د هغوی ارزښت.
- د لاسي صنایعو په پر مختګ باندې د سولې اغېز او ګټې.

## بېلګه ییزې پوښتنې:

د سمو جملو په وړاندې د (ص) توری او د ناسمو جملو په وړاندې د (غ) توری ولیکئ.

- د سپکو صنایعو زیاتره برخه د خلکو د اړتیا وو د لرې کولو لپاره لګول کیږي. ( )
- سپکې صنایع له کرنې او مالدارۍ سره نږدې اړیکې لري . ( )
- زمونږ په هېواد کې د سپېسینو، وریو، وریښمنو او غالیو اوبدل رواج لري. ( )
- د سپکو صنایعو زیاتره اومه مواد د ځارویو او نباتاتو (بوټو) څخه لاسته راځي. ( )
- د لاسي صنایعو ډېرول او ښه کول کورنی اقتصاد پیاوړي او ښه کوي. ( )



**له ټولګي څخه بهر فعالیت:**

ستاسې د اوسېدو په ځای کې کوم ډول لاسي صنایع رواج دي. هغه د خپلو مشرانو په مرسته ولیکئ او سباته یې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه ويشتم لوست

# غالۍ اوبدل

**موخې:**
- زده کوونکي دې د غاليو او غالۍ اوبدلو له صنعت سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د لاسي صنايعو له پراختيا سره مينه پيدا کړي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| نړيوال | جهاني ، بين المللي |
| ډيزاين | طرح کول ، نقشه کول |
| ونډه | برخه ، سهم |
| سوداگريز | تجارتي |

- د غالۍ اوبدلو صنعت له کومې زمانې څخه زموږ په هېواد کې رواج موندلی دی؟
- د لاسي صنايعو پر مختگ په کورني اقتصاد کې څه اهميت لري؟
- د غالۍ اوبدلو د صنعت پراختيا زموږ د هېواد په اقتصاد باندې څه اغېزه لري؟

د غالۍ اوبدلو صنعت زموږ په هېواد کې اوږده سابقه لري آن تر دې چې له ميلاد څخه د مخه دغه صنعت زموږ په هېواد کې رواج درلوده.



دغه صنعت زموږ د هېواد له ډېرو مهمو صنعتونو څخه شمېرل کېږي. غالۍ معمولاً د هغې سيمې په نامه سره چې په کې اوبدل کېږي، ياديږي. لکه: آقچه يي، دولت آبادي، کندوزي، مروي يا موري، قزل ايلاقي، بلوڅي او داسې نور.

افغاني غالۍ پردې سر ببره چې په هېواد کې د ننه خرڅيږي، په بهرنيو هېوادونو لکه، اروپايي او امريکايي هېوادونو کې هم زيات شمېر اخيستونکي لري.

افغاني غالۍ د جنسيت، پايښت، رنگ او ډيزاين له پلوه نړيوال شهرت لري. هر څومره چې وکارول شي په هماغه اندازه يې بيه لوړيږي. د غالۍ اوبدلو پر صنعت سربېره، د ټغر اوبدلو صنعت هم زموږ په هېواد کې وده کړې ده او د هېواد په زياترو سيمو کې رواج لري. قاقمه د ټغرونو ډېر مهم او مشهور ډول دی چې په سر پل او جوزجان کې اوبدل کېږي.

که چېرې مونږ هره ورځ له لوست څخه وروسته په خپل بيکاره وخت کې په کور يا د غالۍ اوبدلو په کوم کارځای کې کار وکړو، خامخا به نه يوازې د غالۍ اوبدلو کسب زده کړو، بلکې له وزګارتيا څخه به وژغورل شو. هم به د خپل ښوونځي لګښت برابر کړو او هم به د خپلې کورنۍ او هېواد په اقتصاد کې پوره ونډه واخلو.




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په څو ډلو ووېشل شي. له مشورې وروسته دې د هرې ډلې استازې د لاندې موضوع په هکله خبرې وکړي او نور دې له هغه سره مرسته وکړي.

د غاليو سوداګريز ارزښت.

## بيلګه ييزې پوښتنې:

تش ځايونه په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

١ – د غالۍ اوبدلو صنعت آن مخکې له............... زمونږ په هېواد کې رواج درلود.

٢ – غالۍ په کومو ځايونو کې چې جوړيږي د همغې.......... په نوم ياديږي.

٣ – افغاني غالۍ سربيره پر دې چې................ خرڅيږي، له هېواد څخه بهر......... او............... ته صادريږي او هلته خرڅيږي.

٤ – افغاني غالۍ د..........، ..........، ............ او ډيزاين له پلوه نړيوال شهرت لري.

٥ – رنګ، مزی (تار)، اوبدل او ډيزاين د غالۍ په جنسيت کې څه اهميت لري؟

٦ – په افغانستان کې څو ډوله غالۍ شته دی، د هغوی نومونه واخلئ؟

**له ټولګي څخه د باندې فعاليت:**

د غالۍ اوبدلو صنعت د کورنيو په اقتصاد باندې څه اغېزه لري؟ په دې هکله د خپلو لويانو په مرسته يو مطلب وليکئ او سباته يې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درویشتم لوست



# چمیاري

**موخه:**

- زده کوونکي دې له چمیارۍ سره آشنا شي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| لوموني | لگام، قیزه |
| کوښي | هغه شیان چې په پښو کوي یـــې، پاپوش |
| کارځای | دستگاه، کارخانه، د کارکولو ځای |
| ځیر | غور، دقت |

- چمیاري یعني څه؟
- د چمیارۍ وده د کورنۍ او ټولنې په اقتصاد باندې څه اغېزه لري؟



چمیاري او بوټ گنډل د سپکو صنایعو له ډلې څخه شمېرل کېږي چې له پخوا وختونو څخه زموږ په هېواد کې رواج لري. چمیارانو به له څرمنې څخه د آس لپاره زیـــن، تانگ، د رکاب پټـــه، لومـــوني او مهار(قیزه) او د خپلو ځـــانونو او نورو خلکو لپاره کوښي جوړولې.

نن ورځ زموږ په هېواد کې له څرمنې څخه د بوټونو مختلف ډولونه، د څرمنې جمپرونـــه، دستکولونه او نور جوړوي. د دغه صنعت تولیدات زیاتره په لویو او کوچنیو کارځایونو کې تر سره کېږي او تر یوې اندازې پورې د خلکو اړتیاوې پوره کوي.

د څرمن کارولو او بوټ گنډلو صنعت نه یوازې د کورنیو په اقتصاد کې ډېر ارزښت لري، بلکې د ټولنې په اقتصاد باندې هم زیاته اغېزه لري.

که چېرې موږ د وزگارتیا په وخت کې د بوټ جوړولو په کوچني او یا لوی کار ځای کې کار وکړو، د یوې مودې له تېریدو څخه وروسته به نه یوازې د بوټ گنډلو کسب زده کړو، بلکې د هغې په وسیله به وکړای شو چې له یوې خوا خپل کار مخته بوزو او له بلې خـــوا د خپلې کورنۍ او ټولنې د اقتصاد په پیاوړتیا کې پراخه ونډه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په څو ډلو وويشل شي. د هرې ډلې استازی دې له خپلې ډلې سره د خبرو اترو وروسته د لاندې مطلب په هکله وغږيږي او نور دې په ځير سره غوږ ورته ونيسي.

د چمیارۍ اقتصادی ارزښت

## بیلګه ییزې پوښتنې:

–د سمو جملو په وړاندې د (ص) توری او د ناسمو او غلطو جملو پــه وړانــدې د (غ) تــوری وليکئ.

١ – چمیاري درونده صنعت دي. (        )

٢– د بوټ ګنډلو او څرمنيزو جمپرونو ګنډل د کورني په اقتصاد کې دومره زيات ارزښت نــه لري. (       )

٣– د بوټ ګنډلو د صنعت وده ددې سبب کېږي چې د بوټونو له پلوه زموږ د ټولنې د وګـــړو اړتياوې تر سره شي. (       )

– فکر په کې وکړئ او بيا ځواب ورکړئ.

٤– د بوټ ګنډلو د کسب زده کړه زموږ په ژوندانه کې څه ارزښت لري؟

٥– که چېرې د لوست ويلو تر څنګ د بوټ ګنډلو کسب هم زده کړو، زموږ شخصي ژوندانه ته څه ګټه رسوي؟

**له ټولګي څخه دباندې فعاليت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د هغه کارځايونو او هغو کسانو نومونه وليکئ چې په ښوازې توګه ستاسې په سيمه کې د چمیارۍ په چارو بوخت دي او سباته يې په ټولګي کې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلرویشتم لوست

# خامک ګنډل

**موخې:**
- زده کوونکي دې له لاسي صنايعو او خامک ګنډنې سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د خامک ګنډنې جلا جلا ډولونه بيل کړای شي.
- زده کوونکي دې د ستن ګنډنې له صنعت سره مينه پيدا کړي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| غاړه | ورمير، دلته د ټټر په مانا ده |
| ګراف | د خامک يو ډول دی. |
| پلاوي | استازی، نماينده ،هئيت. |
| پايله | نتيجه |

- خامک ګنډنه يعني څه؟
- د خامک ګنډنې زده کړه د کورنۍ او ټولنې په اقتصاد کې څه ارزښت لري؟

خامک ګنډنه د ستن ګنډنې د لاسي صنعت له جملې څخه ده چې په زياتره کورنيو کې تر سره کېږي. په هېواد کې دننه او له هېواد څخه دباندې زيات اخيستونکي لري.



دغه صنعت بيل بيل ډولونه لري چې له خولۍ ګنډنې، غاړې (ټټر) ګنډنې، دستمال ګنډنې او داسي نورو څخه عبارت دي چې د اته پاني (هشت برګ)، پسته ګل او نورو پـــه شـــکل ګنډل کېږي.

د ستن ګنډنې ځينې توکي لکه غاړه، ښځينه ټيکري او نارينه څادرونه، د پرتاګه پـــايڅې د ميز او بکس د سر دستمالونه او نور چې د ستنې په واسطه په لاس ګنډل کېږي، د ګل ګنډنې د ماشين په واسطه هم ګنډل کېږي. دغه توکي د هېواد دننه او بهر، دواړو کې خرڅيږي. پر خامک ګنډنې سر بيره چرمه ګنډنه او ګراف ګنډنه هم زموږ په هېواد کې رواج لـــري. پـــه چرمو ګنډلي کميسونه چې زموږ د هېواد د ښځو او نارينه وو له خوا ګنډل کېږي، په هېواد کې دننه او له هېواد څخه بهر زيات اخيستونکي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو وویشل شي. د هرې ډلې استازی دې له خپلې ډلې سره له مشورې څخه وروسته د لاندې مطلبونو په باره کې خبرې وکړي او نور زده کوونکي دې غوږ ورته ونیسي. په پای کې دې ښوونکي صاحب د هغوی خبرې بشپړې کړي.

- په کورنیو کې د ستن ګنډنې ارزښت
- په ټولنه کې د ستن ګنډنې اقتصادي ارزښت

## ښېګړه ییزې پوښتنې:

– د سمو جملو په وړاندې د (ص) توری او د غلطو جملو په وړاندې د (غ) توری ولیکئ

۱– د ستن ګنډنې او خامک ګنډنې صنعت زموږ د ټولنې په زیاترو کورنیو کې رواج لري.( )

۲– زموږ د هېواد زیاتره ځوانان او تنکي ځوانان په خامک ګنډنې جوړې شوې غاړې (ټټرونـــه) آغوندي. ( )

۳– د خامک ګنډنې بېل بېل ډولونه سر ببره پردې چې په هېواد کې دننه ترینه خلک ګټه اخلي، بهرته هم صادرېږي. ( )

۴– د مېزونو او بکسونو د سر دستمالونه چې په خامک ګنډنه جوړ شوي وي، زموږ د هېواد په کلو او بانډو کې زیات رواج لري. ( )

۵– په چرمه جوړ شوي کمیسونه زیاتره په ښارونو کې اغوستل کېږي. ( )

– له فکر کولو نه وروسته ځواب ورکړئ.

۶–که چېرې زموږ د هېواد د خامک ګنډنې توکي د خرڅلاو بازار ونه لري، پایله به یې څه وي؟

**له ټولګي څخه بهر فعالیت:**

ستاسې په سیمه کې څه ډول لاسي ګنډنې رواج لري؟ د خپل مور او پلار په مرسته د هغوی نومونه ترتیب کړي او په ټولګي کې یې ووایاست.


(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

# زموږ په هېواد کې د اوبدلو فابریکې

**موخې:**
- زده کوونکي دې د اوبدلو له فابریکو سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د اوبدلو د صنعت جلا جلا ډولونه یو له بله ښه بېل کړای شي.

- زموږ په هېواد کې کوم ډول صنعت زیات پرمختګ کړی دی؟
- زموږ په هېواد کې د اوبدلو فابریکې کومې دي؟
- ټوکر اوبدل د صنعت په کوم ډول پورې اړه لري؟



**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| تپل | تحمیلول |
| لامل | سبب، علت |

په افغانستان کې د اوبدلو بېل بېل ډولونه لکه سپېسین، وریــن، ســونډي او وریــښمین ټوکران، غالۍ، ټغرونه، شطرنجۍ، پوزي او داسې نور رواج لري. له دې جملې ښخه د غالیو او ټغرونو صنعت د هېواد په دننه او بهر کې زیات ارزښت لري.

د نساجۍ او ټوکرانو اوبدلو صنعت د سپکو صنایعو له ډلې ښخه شمېرل کېږي. دغه صنعت زموږ په هېواد کې له تپل شوې جګړې ښخه د مخه زیات تولیدات درلودل، خو په دې دوو وروستیو لسیزو کې په ټپه ودرېد.

د سولې او هوساینې په منځته راتګ سره دولت په دې هڅه کې دی چې دغه صنعت بیا راژوندی او وده ورکړي.

زموږ په هېواد کې د اوبدلو فابریکې د بګرامیو نساجۍ فابریکــه، د ګلبهــار د نــساجۍ فابریکه، د پلخمري او جبل السراج د نساجۍ فابریکې، د کندهار د وړیو اوبدلو فابریکــه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلخمري د وړيو اوبدلو فابريکه او د خرخي پله د وړيو اوبدلو فابريکې څخه عبارت دي، چې له دې جملې څخه کولی شو د ګلبهار او بګراميو د نساجي له فابريکو څخه يادونه وکړو.

**د بګراميو نساجی فابريکه:**

د بګراميو د نساجی فابريکه د بګراميو د ولسوالی په سيمه کې پرته ده. په **۱۳۴۶** لمريز کال کې يې د چين د هېواد په مرسته د (۷۲۰) مليونو افغانيو په پانګې په کار پيل وکړ چې څلور توليدي برخې، لکه نختابي، اوبدل، رنګول او تخنيک يې درلودې.

په دې فابريکه کې (۴۶۰۰) کسه کارګران او اداري کارکوونکي په کار بوخت وو او هر کال يې يوه اندازه د يادونې وړ توليدات درلودل. اوس د جګړو له امله له فعاليت څخه لويدلې ده او زياتره ماشينونه يې وران، ويجاړ او يا هم لوټ شوی دی.

**د ګلبهار نساجي فابريکه:**

ددې فابريکې د جوړيدو کار په **۱۳۴۲** لمريز کال کې پيل شو. په **۱۳۴۹** لمريز کال کې يې د ٦,٦ مليونو افغانيو په پانګه په فعاليت پيل وکړ. د اتوماتيک اوبدلو ځانګې يې درلودې او د رنګولو په وسايلو او ټاپه کولو سره سنبال و. دغې فابريکې د سپنسينو ټوکرانو پر اوبدلو سربېره د خلکو د اړتيا وړ کمپلې هم توليدولې.




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په دوو ډلو ووېشل شي. هره يوه ډله دې د نساجي د توليداتو د پرمختګ او نه پر مختګ په هکله يوه له بلې سره خبرې وکړي او د هغو لاملونه دې ولټوي.

**بېلګه ييزې پوښتنې:**

۱. د بګراميو د نساجي فابريکه چېرې پرته او په کوم کال کې جوړه شوی ده؟
۲. د بګراميو د فابريکې توليدي ځانګې څو وې؟ د هرې يوې نوم واخلئ.
۳. د ګلبهار فابريکه په سپينسينو ټوکرانو سربېره نور کوم شيان توليدوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږویشتم لوست

# زموږ په هېواد کې د برېښنا د تولید فابرېکې



**موخې:**

- د برېښنا له انرژۍ سره د زده کوونکو اشنايي.
- زده کوونکي دې د برښنا له وسايلو څخه سمه ګټه واخيستلای شي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| پلټنه | لټونه، لټول |
| سروې | پلټنــه ، د لومړنيــو معلومــاتو راغونډول |

- زموږ په هېواد کې له برېښنا څخه څه وخت ګټه واخيستل شوه؟
- سيندونه د برېښنا په توليد کې څه رول لري؟
- آيا کولی شئ چې د هېواد د برېښنا د توليد د څو دستګاوو نومونه واخلئ؟


له حرارتي برېښنا څخه چې د جنراتورونو په واسطه توليديږي د لومړي ځل لپاره زموږ په هېواد کـــې د امير عبدالرحمن خان په زمانه کې کار واخيستل شو چې د کوچنی داينمو په واسطه توليديده او د څـــو څراغونو د روښانولو ظرفيت يې درلود. وروسته د حرارتي برېښنا د توليد کوچني ماشينونه په کابـــل، ننګرهار او پغمان کې په کار ولويدل.

اوبيزه برېښنا د اوبو ګرځوونکو بندونو په واسطه توليديږي. په افغانستان کې کلـــه چـــې صنعت پرمختګ وکړ له روانو اوبو څخه د برېښنا د توليد لپاره سروې او پلټنې پيل شوي.

افغانستان له جغرافيايي پلوه يو غرنی هېواد دی. د مستو او څپاندو سيندونو موجوديت يې د برېښنا په توليد کې د ارزانه او ګټورو منابعو له ډلې څخه وګڼل شول چې موږ دلته د برېـــښنا د توليـــد هـــره فابرېکه په لنډه توګه مطالعه کوو.



SS(P)0507

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱- زموږ په هېواد کې د اوبیزي برېښنا لومړنۍ فابرېکه د جبل السراج فابرېکه ده چې په **۱۲۹۳** لمریز کال کې د انګلیسي کارپوهانو په مرسته د سالنګ د سیند دپاسه سروې او نقــشه یــې واخیستل شوه. دغې دستګاه لومړی د کابل ښار او بیا وروسته د جبل السراج او چاریکـــار ښارونه روښانول. اوس یوازې د هغې له برېښنا څخه د پروان ولایت ګټه اخلي.

۲- **د پلخمري د برېښنا د تولید دستګاه:** دغه دستګاه د کندوز د سیند دپاسه جوړه شوې ده. د هغې د برېښنا له انرژۍ څخه د پلخمري د سمنټو په فابرېکې، د بغلان د قنــد جوړولـــو پـــه فابرېکې او د پلخمري د سیلو په فعالولو کې کار اخیستل کېده.

۳- **د وردګو د چک د برېښنا د تولید بند:** دغه دستګاه درې توربینونه لري او د هغې د برېښنا له انرژۍ څخه د کابل ښار په روښانولو کې کار اخیستل کېده.

۴- **د ماهیپر، سروبي، نغلو او درونټې د برېښنا د تولید دستګاوې:** د برېښنا د تولید دغه دستګاوې د کابل د سیند د پاسه جوړې شوې دي چې د ماهیپر، سروبي او نغلو بندونو د برېښنا له انرژۍ څخه د کابل ښار په روښانولو او د درونټې له برېښنا څخه د جـــلال آباد د ښار په روښانولو کې کار اخیستل کېږي.

۵- **د کجکي د برېښنا د تولید بند:** زموږ په هېواد کې د برېښنا د تولید تر ټولو لوی بند دي چې د هېواد په سویل لویدیځ کې د هلمند د سیند دپاسه جوړ شوي دي. د برېښنا له انرژۍ څخه یې ګاونډي ولایتونه لکه: هلمند، کندهار، او نورې سیمې ګټه اخلي.



I د افغانستان د برېښنا بندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په دوو ډلو وويشل شي.
لومړۍ ډله دې په هېواد کې د برېښنا د تاريخچې په هکله او دويمه ډله دې په هېواد کې د برېښنا د توليد د پام وړ دستګاوو په هکله يو له بله سره خبرې اترې وکړي او بيا دې د دواړو ډلو استازي د خپلو ډلو نظر په ټولګي کې ولولي.

## بېلګه ييزې پوښتنې:

١- د امير عبدالرحمن خان په وخت کې له حرارتي برېښنا څخه کار اخيستل کېده او که له اوبيزې برېښنا څخه؟
٢- د جبل السراج د برېښنا د بند نقشه په کوم کال کې د کوم سيند دپاسه واخيستل شوه؟
٣- د پلخمري د برېښنا له انرژۍ څخه کومو موسسو ګټه اخيسته؟
٤- د ماهيپر، سروبي، نغلو او درونټې د برېښنا بندونه د هېواد په کومو سيمو کې پراته دي؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت:
زده کوونکي دې د ٥٨ مخ نقشې څخه په ګټې اخيستنې سره د هېواد د برېښنا د سترو بندونو موقعيت په نښه او سبا دې په ټولګي کې نوروته وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه ويشتم لوست

# د سيمنټو جوړولو فابريکې

**موخه:**
- زده کوونکي دې د سيمنټو جوړولو له فابريکو سره اشنا شي.

۱- له سيمنټو څخه په څه شي کې کار اخلو؟
۲- زموږ په هېواد کې د سيمنټو جوړولو څو فابريکې موجودې دي؟



له سيمنټو څخه د کورونو، جوماتونو، ښوونځيو، پلونو او نورو ودانيو په جوړولو کې کار اخيستل کېږي. دغې صنعت زموږ په هېواد کې ترېوې اندازې پورې وده کړې ده او سيمنټ يې ښه جنسيت لري.

د سيمنټ جوړولو ډېره ستره فابريکه، د غوري د سيمنټو فابريکه ده چې په ۱۳۲۲ لمريز کال کې د چک او سلواک په تخنيکي او اقتصادي مرسته بشپړه او د هېواد پـه سـاختماني چاروکې يې زيات خدمتونه سرته رسولي دي.

د جبل السراج دسيمنټو جوړولو فابريکې په ۱۳۳۷ لمريز کال کې په فعاليت پيل وکړ د دې فابريکي کلنی تولید (۳۸۲۲۶) ټنو په شاوخوا کې و.

دغې ساختماني ارزښتناکې مادې ته د ورځ په ورځ زياتيدونکی اړتيا له امله د سـيمنټ جوړولو فابريکو په هرات او کندهار کې هم په توليد پيل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په ډلو ووېشل شي.
هره ډله دې په دې هکله چې له سيمنټو څخه څه کار اخيستل کېږي، خبرې وکړي او بيا دې د دوی استازي د خپلې اړوندې ډلې نظر خپلو ټولګيوالو ته څرګند کړي.

**ښېلګه ييزې پوښتنې:**

١– د غوري د سيمنټو فابريکه په کوم کال کې جوړه شوه؟

٢– د غوري د سيمنټو فابرېکې د کوم هېواد په مرسته په کار پيل وکړ؟

٣– د افغانستان سيمنټ څه ډول جنسيت لري؟

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

ستاسې په سيمه کې له سيمنټو څخه څه کار اخيستل کيداي شي، په دې هکله يو مطلب وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

# فلزي صنایع

**موخې:**

- زده کوونکي دې څه ناڅه له فلزي صنایعو سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې د فلزاتو په ارزښت وپوهیږي.
- زده کوونکی دې د فلزي تولیداتو مختلف ډولونه یو له بله څخه بیل کړاي شي.

۱– آیا کولای شئ ووایاست چې څو ډوله فلزات پیدا کیږي؟

۲– له کوم ډول فلزي وسایلو څخه کار اخلئ؟

۳– زموږ په هېواد کې فلزي وسایل چېرې جوړیږي؟

له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ

| | |
|---|---|
| سابقه | لرغونی |
| پیش | آهنگر |
| استخراج | را ایستل |
| استحصال | حاصلول، لاسته راوړل |





فلزي صنعت زموږ په هېواد کې ډېر لرغوني دي. پښانو به پخپلو کوچنیو دستگاوو کې د پولادو او اوسپنې څخه جلا جلا فلزي سامانونه لکه: اره، تیشه، لور، څټک، یوم، تبر او داسې نور جوړول.

حلبي جوړوونکو به د اوسپنې د څادرو له تختوڅخه سطلونه، چاي جوشونه او د لرگیو او تیلو د بخاریو بیل بیل ډولونه جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسگرانو به له مسو څخه د ډوډۍ خوړلو د کاسو جلا جلا ډولونه او د ډوډۍ پخولـــو مختلف ديګونه جوړول په دې توګه د وخت په تيريدو سره دغه صنعت له کوچنيو دستګاوو څخه لويو دستګاوو ته پر مختګ وکړ. په دې ترتيب ويلی شو چې فلزي صنايع د فلزاتو د را ايستلو او په صنعت کې د هغوی له کارولو څخه عبارت دي:

***رنګه فلزي صنايع***: د رنګه فلزاتو له استحصال، بڼهای کولو او ويلي کولو څخه لکه: مـــس، قلعي، سرب، نکل، المونيم، منګنيز، سره زر، سپين زر او داسې نور له رنګه فلزاتو څخـــه د برېښنا د انرژۍ په لېږدولو او د ګاڼو په جوړولو کې کار اخيستل کېږي.

د فلزي توليداتو د لويو دستګاوو له ډلې څخه کولای شو چې د جنګلک د فابريکې يادونـــه وکړو.

***د جنګلک کارخانې:***

د جنګلک کارخانې د کابل په ښار کې موقعيت لري. په **۱۳۴۹** لمريز کال کې د روسيې (پخواني شوروي اتحاد) په مالي او تخنيکي مرسته بشپړې شوې دي. دوې توليـــدي برخـــې لري.

يوه يې د فلزي سامان آلاتو لکه: د ميز، چوکۍ، چپرکټ، لاسي کراچۍ، مـــيخ، فلـــزي دروازې او الماری، د موټرو پرزې، سيخ ګول او داسې نورو د توليد څانګه او بله څانګه يې د ترکانۍ څانګه ده.




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په ډلو وويشل شي. يوه ډله دې پـــه هېواد کې د شخصي فلزي صنايعو په اړوند او بله ډله دې د جنګلک د کارخانو پـــه هکلـــه سره وغږيږي او بيا دې وروسته د دوی استازي د خپلې اړوندې ډلې نظر په ټـــولګي کـــې څرګند کړي.

**بېلګه ييزې پوښتنې:**

۱ – پښان پخپلو فلزي دستګاوو کې کوم ډول فلزي شيان جوړوي؟
۲ – رنګه فلزات له کومو شيانو څخه عبارت دي؟ نومونه يې واخلي.
۳ – حلبي جوړوونکي د اوسپنې له تختو څخه کوم شيان جوړوي؟
۴ – د جنګلک کارخانې کوم شيان توليدوي؟

**له ټولګي څخه د باندې فعاليت:**

**د فلز په هکله د لويانو په مرسته يو مطلب وليکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه ویشتم لوست

# زموږ په هېواد کې حجاري او ترکاڼي

**موخې:**

- د لرګیو له صنعت سره د زده کوونکو څه نا څه اشنايي
- د حجارۍ له صنعت سره د زده کوونکو آشنايي

۱ – له لرګیو څخه په کومو چارو کې کار اخیستل کېږي؟

۲ – حکاکان او کاڼي جوړوونکي د مرمرو له ډبرو څخه څه ډول شیان جوړوي؟




**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| حجاري | ډبرین صنعت، یعني له تیږي څخه د شیانو جوړولو صنعت |
| حجر | تیږه ، ډبره |
| حکاکان | هغه کسان چې په ډبره کې لیکل کوي |
| موبل او فرنیچر | میز، چوکۍ ، کوچ، المارۍ، فرش وظرف او نور |

د لرګیو صنعت له پخوا څخه زموږ په هېواد کې دود و. ترکاڼانو به له لرګیو څخه دروازې، کړکۍ، یوې، میزونه، چوکۍ، الماري او داسې نور توکي جوړول.

په نورستان کې له لرګیو څخه جوړ شوي صندوقونه، چوکۍ او میزونه ډېر په زړه پورې او ارزښتناک وو چې د سیلانیانو پام یې ځانته وراړولو. د لرګیو صنعت او له هغې څخه ګټې اخیستنې ورو ورو پر مختګ وکړ تر هغو چې د ترکاڼۍ کوچنۍ دستګاوې په لویو فابرېکو واوښتې. د افغان ترکاڼۍ فابریکه په کابل کې جوړه شوه. دغه فابرېکه په هېواد کې د لرګیو یوازېنۍ فابرېکه ده چې د سیمې په کچه د ایران او پاکستان له دولتونو سره د لرګیو د صنعت په تولید کې سیالي کولی شي. دغه فابریکه د تولید، ترمیم او روزنې برخې لري چې د رنګمالۍ، کیندنې، پلې او چوکاټ جوړونې برخې هم په هغې کې په فعالیت بوختې دي. تولیدات یې د هېوادوالو د اړتیا وړ د موبل او فرنیچر مختلفو ډولونو، الماریو، دروازو او کړکیو څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حجارۍ صنعت هم د ترکانۍ د صــنعت په څېر د پخوا راهيسې زموږ په هېـــوادکې رواج لري. د مرمرو او رخام له ډبرو څخـــه د هېـــواد تکړه ډبرې توږونکې د کورونو او نورو تعميرونو لپاره ښکلې ډبرې او همدارنګه د لوښو مختلـــف ډولونه، لکه: سګرټ دانۍ، ګلدانۍ، د ډبرو پيالې، ميزونه او داسې نور شيان جوړوي.

اووه رنګه ډبره چې د (سنګ هفت قلم) په نامه ياديږي او د هرات په ولايـــت کـــې د خواجـــه عبدالله انصار د زيارت تر څنګ پرته ده ځانګړې هنري او تاريخي ارزښت لري.




زده کوونکې دې د ښوونکي صاحب له لارښوونې سره سم په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د لرګيو د صنعت په اړوند او دويمه ډله دې په هېواد کې د حجارۍ دصنعت په اړوند يو له بل سره مباحثې وکړي او بيا دې د هغوی استازې د خپلو اړوندو ډلو نظر ټولګيوالوته ووايې.

**بيلګه ييزې پوښتنې:**

١– د هغو شيانو نومونه واخلئ چې ترکاڼان يې له لرګيو څخه جوړوي؟

٢– زموږ د هېواد د کوم ولايت د لرګيو صنعت ډېر شهرت لري؟

٣– ډبرې توږونکو له ډبرو څخه کوم ډول شيان جوړول، نومونه يې واخلئ؟

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

زده کوونکې دې د خپلو لويانوپه مرسته د هغو شيانو نومونه وليکي چې د دوی په ځای کې له لرګيو څخه جوړيږي او په ټولګي کې دې ولولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیرشم لوست


# په افغانستان کې سوداګري

**موخې:**
- په افغانستان کې له سوداګرۍ سره د زده کوونکو آشنايي
- زده کوونکي دې د سودا ګرۍ بېلابېلـــې لارې چـــارې زده کړي.

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ

| | |
|---|---|
| اړتيا | ضرورت |
| بهرني | خارجي |
| مروج | دوديز، رواج، رواجي |
| تړاو | ارتباط |
| مارکيټ | بازار |

- سوداګري څه شی ده؟
- سوداګري په یوه هېواد کې څه اغېز لري؟
- کوم ډول حاصلات او لاسته راوړنې د هېواد سوداګري تشکيلوي؟



انسانان د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره اړ دي چې جوړ شوي شيان نوروته وړاندې کړي او په بدل کې يې د خپلې اړتيا وړ شيان له نورو څخه لاسته راوړي. د خلکو دغه اړتيـــاوې او د هغوی اړتياوو چمتو کولو او غوښتلو ته سوداګري ويل کېږي. سوداګري په دوه ډولـــه ده.

۱ – کورنۍ سوداګري ۲ – بهرنۍ سوداګري

د هر هېواد ښيرازي او پر مختګ د هغه هېواد په پيداوار او د توليد د اندازې په زياتوالي پورې اړه لري. په هره اندازه چې د يو هېواد د پيداوارو د ليږلو اندازه زياته وي پـــه همغـــه اندازه بهرنۍ پيسې هغه هېواد ته ډېرې راوړل کېږي. د هغه هېواد اقتصاد پياوړی کېږي او د هغه هېواد د مروجو پيسو ارزښت لوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې چې زموږ هېواد په وچه کې پروت يو هېواد دی او له آزادو اوبو او سمندرونو سره نيغ په نيغه کوم تړاو نه لري، خو بياهم د نړۍ د سوداګرۍ له زياتو مارکيټونو سره سوداګريز تړاو لري. د افغانستان سوداګري په ټوليز ډول د کرنې او د ځارويو په پيداوارو باندې ولاړه ده. که څه هم زموږ په هېواد کې صنعتي چارو پر مختګ نه دی کړی، له دې سره سره لاسي صنعت لکه: غالۍ او ټغرونه يا داسې نور رواج لري. له همدې امله زموږ د هېواد د صادراتو لومړی قلم د کرنې او مالدارۍ پيداوار تشکيلوي.

افغانستان هر کال د کرنې يوه زياته اندازه پيداوار لکه: وچې او تازه مېوې د پاکستان او هندوستان هېوادونو ته ليږي. همدارنګه يوه زياته اندازه وچه ميوه لکه: بادام، پسته او مميز اروپايي او امريکايي هېوادونو ته هم ليږل کېږي.

زموږ د هېواد د ځارويو پيداوار لکه: وړۍ، پوستکي، قره قل پوستکي، او کولمې اروپايي بازارونو او د نړۍ نورو هېوادونو ته وړل کېږي. د همدغه پيداوارو له لارې يوه زياته اندازه بهرنۍ پيسې زموږ هېواد ته راځي او د هېواد د اقتصاد په پياوړتيا باندې ډېر اغېز کوي.




زده کوونکي دې د ښوونکي تر نظر لاندې په ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د لوست غوره او د پام وړ مطلبونه په لنډه توګه ووايي او د هغوی ګټې دې په ټولګي کې بيان کړي.

**ښېګڼه ييزې پوښتنې:**

– د سمو جملو په وړاندې د (ص) توری او د ناسمو جملو په وړاندې د (غ) توری وليکئ.

۱– د هر هېواد ښېرازي او پر مختګ د هغه هېواد د پيداوارو په اندازې پورې اړه لري. ( )

۲– سره له دې چې افغانستان په وچې کې را ګير هېواد دی، له دې سره سره هم د نړۍ د سوداګرۍ د مارکيټونوسره تړاو لري. ( )

۳– د افغانستان سوداګري په ټوليزه توګه په لاسي صنعت باندې ولاړه ده. ( )

۴– د افغانستان د سوداګرۍ د پام وړ او غوره قلمونه له غاليو او وچو مېوو څخه عبارت دي. ( )

**له ټولګي څخه د باندې کار او فعاليت:**

زده کوونکي دې د خپلو لويانو په مرسته د هغو شيانو او جنسونو لست ترتيب کړي چې زموږ د هېواد سوداګران يې له بهر څخه راوړي. هغه دې بيا په ټولګي کې ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یودېرشم لوست**

# کورنۍ سوداګري


**موخې:**

- زده کوونکي دې له کورنۍ سوداګري سره آشنا شي.
- زده کوونکي دې وارداتي او صادراتي قلمونه يو لــه بــل څخــه جلا، جلا وليکي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ**

| | |
|---|---|
| توکي | مواد ، شيان |
| زمينه | طرح، موضوع، متن يا هغه څه چې نقشه يي په مخ واخيــستل شي |
| رول | تمثيل، اهميت، برخه |
| پلورل | خرڅول |
| پيرودل | اخيستل، رانيول |

- **کورنۍ سوداګري د هېواد په اقتصاد باندې څه اغېز لري؟**
- **سوداګر په هېواد کې د ننه کوم شيان وړاندې کوي؟**



**کورنۍ سوداګري د هېواد د اقتصادي فعاليتونو غوره او ډېره د پام وړ برخه جوړوي چې د کورنيو سوداګرو په مرسته تر سره کېږي. دغه سوداګري د کار د پيدا کيدو لپــاره د آزادې پانګې اچونې زمينه برابروي چې د پيداوارو په لوړولو او د هېواد د اقتصاد په پرمختــګ او غوړيدا کې ښه اغېز لري.**

**کورنۍ سوداګري نه يوازې ښارونه يو له بله سره نښلوي بلکې د هېواد د بېلابېلو قومونو، قبيلو او خلکو تر منځ ټولنيزو، فرهنګي، اقتصادي او سياسي اړيکو ته پراختيا ورکوي. کوچني سوداګر له کليو څخه کوچنيو ښارونو او کله هم د هېواد لويو ښارونو ته د سوداګرۍ توکي وړي او په بدل کې يې له لويو ښارونو څخه کوچنيو ښارونو، ولسواليو او لرې پرتو کليوته د خلکو د اړتيا وړشيان وړي. له دې لارې څخه ګټه تر لاسه کوي او هم د خپلو خلکو اړتياوې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره کوي. دغه سوداګر ډېر اومه توکي، مېوې، د لاسي صنعت پیداوار او څاروي ښارونو ته وړاندې کوي او په بدل کې یې د اړتیا وړشیان خپلو اړوندو سیمو ته وړي.

زموږ په هېواد کې وروستۍ څو کلنې جګړې د سوداګرۍ په چارو باندې هم خپل بد اغېز په ځای پرېښود.

د لنډ مهالي او منځ مهالي اداري او اسلامي دولت په منځته راتلو سره پــه هېــواد کـــې سوداګري بیاله سره وغوړېده او د آزاد بازار لپاره یې زمینه برابره کړه.




زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هر یودې د کورنۍ سوداګرۍ په باره کې له بل سره وغږېږي او د ټولګي په وړاندې دې د خپلې ډلې نظر څرګند کړي.

**بیلګه ییزې پوښتنې:**

۱ – کورنۍ سوداګري د ښارونو او کلیو د خلکو تر منځ څه رول لوبولی شي؟ بیان یـــې کړئ.

۲ – کورنې سوداګر کوم توکي د کلیو او ښارونو تر منځ وړي او راوړي؟

۳ – ستاسې په سیمه کې کوم شیان پلورل او پیرودل کېږي؟ د هر یو نوم واخلي؟

**له ټولګي څخه بهر فعالیت:**

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو په مرسته په کورنۍ سوداګرۍ باندې د وروستیو څو کلنو جګړو د اغېز په هکله یو مطلب ولیکي او په ټولګي کې دې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دېرشم لوست

# بهرنۍ سوداګري

له نوو لغتونو سره آشنا شئ.

| | |
|---|---|
| مفهوم | پوهول شوي، هغه څه چې سړې پرې پوه شي |
| بهرنۍ | خارجي |
| توکي | مواد، شیان |
| ذهن | زیرکي، څوره، څره |
| وده | نمو، انکشاف |

**موخې:**
- زده کوونکي دې د بهرنۍ سوداګرۍ په مفهوم باندي وپوهېږي.
- زده کوونکي دې د افغانستان د بهرنۍ سوداګري له تاریخچې سره آشنا شي .

– د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ د تاریخچې په هکله څومره پوهېږئ؟

سوله د بهرنۍ سوداګرۍ او د هېوادونو تر منځ د ښو اړیکو په برخه کې څه اهمیت لري؟

– وروستیو څو کلنو جګړو زمونږ په بهرنۍ سوداګرۍ باندې څه اغېز کړی دی؟



افغانستان په پخوا وختونو کې د آسیا او اروپا د لویو وچو تر منځ د سوداګرۍ د لارې په اوږدو کې پروت و چې چین څخه به وریښمین او د سوداګرۍ نور توکي او له هند څخه به درمل او مصالحه باب د افغانستان له لارې د پخواني یونان او روم خاورې ته او له همدغو ځایونو څخه به د سوداګرۍ توکي له همدغې لارې آسیایي هېوادونو ته وړل کېدل. له دې امله د سوداګرۍ دغه لیکه د وریښمو د لارې په نامه مشهوره شوه، چې تر اوسه پورې زمونږ د هېواد د خلکو په سینو او تاریخونو کې همداسې ځلانده پاتې ده.

څرنګه چې په افغانستان کې صنعتي پیداوارو پوره وده نه ده کړې نو له دې کبله زمونږ خلک اړ کېږي چې د خپلې اړتیا وړ شیان له بهر څخه راوړي. له دې امله افغانستان د نړۍ له یو شمېر هېوادونو سره د سوداګرۍ اړیکې ټینګې کړي دي.که څه هم له کورنیو جګړو د مخه په هېواد کې یو شمېر فابریکې وې، خوله بده مرغه د وروستیو څو کلنو جګړو او پرله پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وچکالیو په ترځ کې زموږ د هېواد کرنیز، صنعتي او د مالدارۍ پیداوار چې زموږ د بهرنـــۍ سوداګرۍ لوړه برخه یې جوړوله، زیانمن شوي دي او یا هم په بشپړه توګه له منځه تللي دي. له نیکه مرغه د انتقالي او اسلامي جمهوري دولت په منځته راتګ سره سوله زموږ هېواد تـــه راغله او بهرنۍ سوداګرۍ وغوړېده. یو شمېر تولیدي کارخانې له سره جوړې او په تولید یې پیل وکړ. حکومت پرېکړه وکړه چې د هېواد د اقتصاد د پر مختګ او غوړېدنې لپاره کورني او بهرني پانګه وال د پانګې اچونې لپاره وهڅوي او سوداګرۍ ته له ســـره وده او ســـمون ورکړي.




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په څو ډلو ووېشل شي.
- دسوداګرۍ د تاریخچې
- له جګړو څخه د مخه سوداګرۍ
- له جګړو څخه وروسته سوداګرۍ

په هکله دې یو له بل سره خبرې وکړي او په ټولګي کې دې هغه وړاندې کړي.

## بیلګه ییزې پوښتنې:

۱– افغانستان په پخوا وختونو کې له کومو هېوادونو سره د سوداګرۍ اړیکې درلودې؟
۲– د افغانستان د سوداګرۍ مشهوره لاره په کوم نوم نومول شوې وه؟
۳– څو کلنو وروستیو جګړو د افغانستان په بهرنۍ سوداګرۍ باندې څه اغېز کړی دی؟
۴– د افغانستان اسلامي جمهوریت د هېواد د اقتصاد د ودې لپاره څه ډول پرېکړه وکړه؟

**له ټولګي څخه بهر کار او فعالیت:**
زده کوونکي دې د خپلو مشرانو په مرسته د ځینې هغو توکو لست جوړ کړي چې د سوداګرو په مرسته له بهر څخه هېواد ته راوړل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دري دېرشم لوست

# د افغانستان واردات او صادرات

**موخې:**
- زده کوونکي دې صادرات وپېژني.
- زده کوونکي دې د وارداتو په هکله معلومات تر لاسه کړي.
- زده کوونکي دې وارداتي او صادراتي توکي يو له بله څخه جلا کړای شي.
- زده کوونکي دې د هېواد د اقتصاد له پياوړتيا سره مينه پيدا کړي.

له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ

| | |
|---|---|
| جلا | بيل |
| زنکی | زيره |
| عايدات | در آمد |
| منبع | سر چينه |

- آيا پوهيږئ چې صادرات څه ته ويل کېږي؟
- آيا پوهيږی چې واردات څه مفهوم لري؟
- آيا د هېواد د وارداتي توکو نومونه اخيستی شئ؟







که چېرې په يو هېواد کې کرنيز، مالداري، صنعتي او کاني (معدني) پيداوار په زياته اندازه توليد او تر لاسه شي د دغو توکو زياته برخه بهرته د خرڅلاو لپاره لېږل کېږي. د دغو توکو بهر ليږلو ته صادرات ويل کېږي.

زموږ د هېواد د صادراتو د پام وړ قلمونه دادي: پنبه، وچې او تازه مېوې، طبي بوټي لکه (زنکۍ)، هينجه، خوږه ولي، وړۍ، پوستکي، کولمې، د قره قل پوستکي، غالۍ او داسې نور.

هرکله چې د يو هېواد د مالدارۍ، کرنې او صنعت پيداوار د هغه هېواد د خلکو اړتياوې پوره نه کړای شي، په داسې وخت کې هغه هېواد اړکېږي چې د اړتيا وړشيان له بهر څخه وارد کړي. له بهر څخه د اړتيا وړ د دغو شيانو راوړو ته واردات ويل کېږي.

زمونږ د هېواد د وارداتو د پام وړ توکي دا دي: غنم، اوړه، کوښي، د برېښنا ســـامان، راډيو، تلويزيون، ټيپ، يخچال او د لېږد وسايل، لکه: الوتکې، موټر، موټرسايکل، بايسيکل او داسې نور. له بده مرغه د وروستيو څو کلنو جګړو او پر له پسې وچکاليو له امله د هېواد د صادراتو اندازه کمه او د هغې پرځای د وارداتو اندازه زياته شوې چې د هېواد اقتـــصاد يـــې کمزوری کړی دی.


زمونږ په هېواد کې د سوله غوښتونکو هېوادونو په مرسته د لنډ مهالې ادارې او انتقالي او اسلامي جمهوري دولت په منځته راتلو سره سوله او امنيت ټينګ شوی دی. غوره ده چې د هېواد د اقتصادي پرمختيا لپاره نورې ښې لارې چارې ولټول شي.

**د افغانستان بندرونه:**

افغانستان هغه هېواد دی چې سمندرته لار نه لري. د مالونو وړل راوړل يـــې د هغـــو بندرونو له لارې تر سره کېږي چې د هېواد په پولو (سرحدونو) کې پراته دي. هغه محصول چې د سوداګرۍ د مالونو د وړلو راوړلو له لارې لاس ته راځي د دولت له خوا ټولېږي او د دولت لپاره يوه عايداتي سرچينه ګڼل کېږي. د افغانستان مشهور بندرونه په لاندې ډول دي:

۱– د حيرتان بندر، د بلخ په ولايت کې

۲– د تورخم بندر، د ننګرهار په ولايت کې






SS(P)0507

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د سپین بولدک بندر، د کندهار په ولایت کې
۴- د اسلام قلعه او تورغنډۍ بندرونه، د هرات په ولایت کې
۵- شیر خان بندر، د کندوز په ولایت کې




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې د لاندې موضوعګانو په هکله یو له بله سره خبرې وکړي.

- صادرات:
- واردات:

**بیلګه ییزې پوښتنې:**

د سمې پوښتنې په وړاندې د (ص) توری او د ناسمې پوښتنې په وړاندې د (غ) توری ولیکئ.

۱- د افغانستان د صادراتو د پام وړ قلمونه صنعتي توکي تشکیلوي. (   )
۲- هغه شمېر شیان چې خرڅلاو لپاره بهرته لېږل کېږي، صادرات ورته وایي. (   )
۳- هغه شیان چې له بهر څخه هېواد ته راوړل کېږي، صادرات بلل کېږي. (   )
۴- زموږ د هېواد د وارداتو د پام وړ قلمونه د برېښنا سامان آلات، خوراکي توکي او د لېږد رالېږد وسایل تشکیلوي. (   )
۵- د حیرتان بندر د بدخشان په ولایت کې پروت دی. (   )

**له ټولګي څخه بهر کار او فعالیت:**
زده کوونکي دې د خپلو لویانو په مرسته د صادراتي او وارداتي توکو په هکله یو مطلب ولیکي او په ټولګي کې دې ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴– د استوګنې چاپېريال او طبيعي سرچينې

## څلور دېرشم لوست                د افغانستان اقليم


**موخې:**

- د افغانستان له اقليم سره دې زده کوونکي آشنا شي.
- زده کوونکي دې د نقشې پر مـخ د اقلـيم لـه پلـوه د هېـواد بېلابېلې سيمې يوه له بلې څخه بېلې کړای شي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ**

| | |
|---|---|
| پايښت | دوام |
| توپير | فرق |
| ارتفاع | لوړ والي |
| سمندر | بحر |

- اقليم د خلکو پر ژوند باندې څه اغېز لري؟
- غرونه او لوړې ژورې د يو هېواد پر اقليم باندې څه اغېز لري؟
- ستاسې د استوګنې د ځای اوبه او هوا څنګه دي؟




د انسان ټولې هڅې چې د ژوند د پايښت لپاره تر سره کېږي نېغ په نېغه د هغې سـيمې د اقليم تر اغېز لاندې وي.

هغه خواړه چې خورئ يې، هغه اوبه چې څښئ يې، هغه کالي چې د اقليم له بدلون سـره سم يې د ځان د ساتلو لپاره اغوندئ، هغه کور چې ژوند په کې کوئ، هغه ورځني کارونه چې د خپل ژوندانه د پايښت لپاره يې سرته رسوئ، ټول د هغې سيمې د اقليم تر اغېز لاندې دي چې ژوند په کې کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ هېواد په معتدله شمالي سیمه کې پروت دی. اقلیم یې په بیلابیلو برخو کې له سمندرونو څخه د لرې والي، د سمندر له کچې څخه د لوړوالي، د غرونو د لوړوالي او ټیټوالي او هغو بادونو له کبله چې د هغې پر خوا لګیږي، یو له بله څخه توپیر لري. ځینې ښارونه یې لکه: کندهار، جلال آباد او خوست چې په ټیټو اولږو لوړو سیمو کې پراته دي، په اوړي کې یې اقلیم تود او په ژمي یې هوا وچه او بې واورې وي. په داسې حال کې چې د بامیان، غزني، کابل، غور او نور ښارونه چې په لوړو کې پراته دي په اوړي کې یې هوا نه سړه او نه توده بلکې معتدله وي او په ژمي کې ساړه او له واورو ډک وي.




**زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي، هره ډله دې پر ژوند باندې د اقلیم د اغېزو په هکله یو له بله سره خبرې وکړي او بیادې نورو ټولګیوالوته ووایي.**

### بیلګه ییزې پوښتنې:

١ – زموږ هېواد افغانستان په کومه اقلیمي سیمه کې پروت دی؟

٢ – د ځینو سیمو ژمي لکه: کندهار، جلال آباد، او خوست څه ډول هوا لري؟ بیان یې کړئ.

٣ – افغانستان کوم ډول اقلیم لري؟خرنګوالی یې ووایاست.

**له ټولګي څخه بهر کار اوفعالیت:**

**زده کوونکي دې په دې هکله چې په دې وروستیو کلونو کې ولې وچکالي زموږ په هېواد کې رامنځته شوه، یو مطلب ولیکي او په ټولګي کې دې ولولي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه دېرشم لوست

# د افغانستان کانونه

**موخه:**

– د افغانستان تر ځمکې لاندې سر چینو سره دې زده کوونکي اشنا شي.


– آیا افغانستان تر ځمکې لاندې سرچینوله پلوه یو موړ او شتمن هېواد دی او که څنګه؟

– ویلی شئ چې په افغانستان کې د پام وړ کانونه کوم دي؟

له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره آشنا شئ.

| | |
|---|---|
| فني | هنري او مسلکي، حرفه يي |
| زېرمه | ذخيره |
| کان | معدن |
| په نښه کول | اثباتول، په ګوته کول، موخه نيول |

افغانستان تر ځمکې لاندې سرچینو له پلوه یو موړ او شتمن هېواد دی خو له ډېرو څخه یې تــر اوســه پورې په سم او فني ډول ګټه نه ده اخیستل شوې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د يادولو وړ کانو څخه ځيني دا دي: د سرو زرو، سپينو زرو، لاجــوردو، زمــردو، اوسپنې، جستو، مسو، د ډبرې سکرو، پټرولو، طبيعي ګازونو، ګوګړو، ګچو او داسې نور چې يوازې د ډبرې له سکرو، ښکلو کانو او مالګې څخه يې ګټه اخيستل کېږي.

د طبيعي ګاز يا ګيس زېرمې د جوزجان، هرات، فارياب او تخار په ولايتونو کې په نښه شوي دي.

د ډبرو سکاره چې په تودوخه کې ورڅخه کار اخيستل کېږي په کرکر، درۀ صوف او اشپشته کې دي.

مالګه په تالقان او نمکسار کې لاس ته راځي. همدارنګه ښکلې ډبرې لکه: مر مر، رخام په جــاغوري، غزني، کندهار، غوربند، کابل او داسې نورو سيمو کې په ډېره اندازه پيدا کېږي. پترول پــه هــرات، جوزجان، فارياب او کندوز کې په نښه شوي دي.






د ښاغلي ښوونکي تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو ووېــشل شــي او د لاندې مطلبونو په باره کې دې سره خبرې وکړي. د خپلې ډلې نظر دې د خپل استازي په مرسته ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

- د ډبرو سکرو اهميت او ارزښت
- د مالګې اهميت او ارزښت

**ښلګه ييزې پوښتنې:**

۱ – نقشې ته وګورئ او ووايـاست چې د ډبرو سکاره د هېواد په کومو سيمو کې پيدا کېږي؟

۲ – نقشې ته وګورئ او ووايـاست چې پترول د هېواد په کومو سيمو کې موندل کېږي؟

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۳ – ښايسته ډبرې په..................، .................. .................. کې پيدا کېږي.

۴ – د ډبرو سکاره د هېواد په ..................،..............او.................کې دي.

**له ټولګي نه بهر کار او فعاليت:**

زده کوونکي دې د لويانو په مرسته په دې هکله چې ولې د هېواد ځيني کانونه تر اوسه پورې ناسپړلي پاتې دي، يو مطلب وليکئ او سبا دې په ټولګي کې ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږدېرشم لوست

# د افغانستان ځنګلونه

**موخې :**

- د هېواد له ځنګلونو سره د زده کوونکو اشنايي.
- زده کوونکي دې د ځنګلونو له ساتلو سره مینه پیدا کړي.

- آیا کله مو له خپل ځان سره پر دې باندې فکر کړی دی چې ځنګلونه زموږ په ژوند کې څه اغېز او څه ارزښت لري؟

له نوو لغتونو سره بلد شئ

| | |
|---|---|
| استوګنه | اوسېدنه ، ژوند کول |
| لوټ | چور ، چپاول |
| څېړۍ | بلوط |
| لمنځه | ارچه |
| زمينه | طرحه ، موضوع، متن ، هغه شی چې د هغې پر مخ نقشه رسم شي |





ځنګلونه د هر هېواد له ډېرو ګټورو او ارزښت لرونکو طبيعي سرچينو څخه شمېرل کېږي. ځنګل د ځارويو او الوتونکو د بېلابېلو ډولونو لپاره د پټېدلو او استوګنې ډېر ښه او مناسب ځای وي. د ځنګل هوا سمه، معتدله، پاکه او په زړه پورې وي. ځنګل د يوې سيمې د اوبو او هوا په بدلون کې غوره اغېز لري.د يوې سيمې هوا پاکه او په زړه پورې کوي.

ځنګلونه زيات اقتصادي ارزښت هم لري چې سربېره پر مېوو يې د ځنګلونو له لرګيو څخه د ودانيو په جوړولو اوهمدارنګه په سوځولو کې هم کار اخيستل کېږي.

د افغانستان د پستې ځنګلونه د بادغيس، سرپل او سمنګان په ولايتونـــو او د څېـــړۍ او لمنځې ځنګلونه دکونړ، نورستان، پکتيا، خوست، ننګرهار، لغمان او کاپيسا په ولايتونو کې شته.په هېواد کې د وروستيو جګړو او د لرګيو د قاچاقيانو له خوا په غير قانوني توګه د هغو د غوځولو له امله اوس ددې ځنګلونو د ونو شمېر مخ په کمېدو دی او ورځ په ورځ زموږ دغه ملي شتمنۍ لوټ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن د ځنګلونو او طبيعي سرچينو د ساتلو اهميت او ارزښت هر چاته ښکاره دی. له هغو څخه په سمې ګټې اخيستنې سره کولی شو چې د اقتصادي پر مختياوو زمينه په ځانګړې توګه د لرګيو او کاغذ جوړولو په صنعت کې برابره کړو. د ځنګلونو ساتنه زموږ د ټولو دنده ده.




زده کوونکي دې د ښاغلي ښوونکي تر نظر لاندې په څو ډلو وويشل شي. هره ډله دې د لوست غوره مطلبونه په لنډه توګه په ټولګي کې بيان کړي.

**بيلګه ييزې پوښتنې:**

۱. ځنګلونه د يوې سيمې پر اوبو او هوا باندې څه اغيز لري؟
۲. کوم لاملونه زموږ د هيواد د ځنګلونو د له منځه تللو سبب ګرځي؟
۳. د ځنګلونو ساتنه دچا دنده ده؟
۴. ځنګلونه څه ډول اقتصادي سرچينې دي؟

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

زده کوونکي دې د خپلو لويانو په مرسته د ځنګلونو د ګټو او ارزښت په هکله يو مطلب وليکي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵– سوله او بشري حقونه

اووه دېرشم لوست **سوله او ژوندون**

**موخې:**

- زده کوونکي دې د سولې له مفهوم سره څه ناڅه اشنا شي.
- زده کوونکي دې د سولې او جګړې تر منځ توپیر وکړای شي.
- زده کوونکي دې له سولې او هوساینې سره مینه پیدا کړي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شي**

| | |
|---|---|
| ګواښ | تهدید |
| بشپړ | پوره ، مکمل، ټول |
| تلفات | له منځه تلل، مړه کېدل |
| غمیزه | لوی مصیبت ، ناوړه او لویه بده پېښه |

۱ – سوله څه ته وایي؟
۲ – سوله څه ګټه لري؟

سوله له هغې فضا څخه عبارت ده چې په هغې کې انسان له هېڅ لوري څخه تر ګواښ لاندې نه وي او یا د کوم خطر احساس ونه کړي. په سوله ییزه فضا کې انسان کولای شي ډېـــر ښـــه فکـــر وکړي، زیات او ښه کار وکړي، زیاته زده کړه وکړي او په پای کې ډېر ښه ژوند ولري.

یوازې انسانان نه بلکې ځاروي هم سولې ته اړتیا لري.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې چې څو کاله ویجاړوونکې جګړه روانه وه، نه یـــوازې زیـــات مالي زیانونه یې ورسول، بلکې زیات ځاني تلفات او زیانونه یې هم درلودل. له نیکه مرغه د جرمني د بن د ښار موافقه لیک دغه اوږده غمیزه پای ته ورسوله او بیا یې د نوي سوله ییز ژوند پیلېدل زموږ د ګران هېواد د رنځېدلو خلکو په برخه کړل چې وکړای شي له خپلو انساني حقونو څخه برخمن شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو ووېشل شي. د هرې ډلې استازی دې له خپلې ډلې سره تر خبرو اترو وروسته د لاندې مطلبونو په هکله وغږېږي او نور دې په غور سره غوږ کېږدي.

- د سولې ښېګڼې
- دجګړې زیانونه

**ښېګڼه ییزې پوښتنې:**

– څه وخت کولای شو خپلې زده کړې په ښه توګه پر مخ بوځو؟

– سوله زموږ په ژوندانه کې څه ارزښت لري؟



**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د سولې له ټینګېدو څخه وروسته ستاسې په سیمه کې کوم شیان جوړ او څه ډول کارونه تر سره شوي دي؟ یو مطلب پرې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته دېرشم لوست

# سوله څه ډول ټينګولای شو

**موخه:**

- زده کوونکي بايد وپوهيږي چې د سولې د منځته راتلو شرايط څه ډول تيار او برابريږي.

له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره آشنا شئ

| | |
|---|---|
| اړين | ضروري |
| عدالت | نياو، انصاف |
| وسيله | سبب، واسطه |
| خوندي | ساتلې، محفوظ |
| تجاوز | تيری |

۱ – کوم دولتونه زيات پايښت کولای شي؟

۲ – د هميشنۍ سولې د ټينګښت وسيلې اوشرطونه کوم دي؟

سوله او هوسايي د هر انسان د ژوندانه لپاره يو اړين او ضروري کار دی، ځکه چې له هميشنۍ او دوامداري سولې پرته ټولنه پر مختګ او ترقي نه شي کولی.

لاندې ټکي د سولې له پايښت سره زياته مرسته کولای شي:

- په ټولنه کې د عدالت شتون او موجوديت د هميشنۍ سولې د ټينګښت لپاره ښه وسيله شمېرل کېږي.
- دا تجربه شوې ده کومو دولتونو چې عدالت ټينګ او تامين کړی دی، زيات پايښت يې کړی دی. هغو دولتونو چې ظلم او زور ته مخه کړې ده، ژر له منځه تللي دي.
- د يو داسې نظام شتون چې وکړای شي له کوم توپير او امتياز څخه پرته د هېواد د ټولو اوسيدونکو حقونه خوندي وساتي، قوانين پر ټولو باندې يو شان پلي کړای شي او د کار د کار اهل ته وسپاري.
- هر څوک بايد خپل او د نورو حقونه وپيژني او د نورو پر حقونو باندې تيری او تجاوز ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې دې زده کوونکي په ډلو وويشل شي. د لاندې مطلبونو په هکله دې په خپل منځ کې مشوره سره وکړي او وروسته دې د هرې ډلې استازى د خپلې اړوندې ډلې نظر په ټولګي کې ووايي.

- عدالت
- ظلم

**ښيلګه ييزې پوښتنې:**

– لاندې اصطلاحګانې تعريف کړئ؟

عدالت، نظام

– که چېرې کار د کار اهل ته وسپارل شي، څه ګټه لري؟

– ظلم او بې عدالتي څه ډول پايلې لري؟ په دې هکله په لنډه توګه څرګندونې وکړئ.

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

د خپلو مشرانو په مرسته د سولې په هکله يو مطلب وليکئ او په ټولګي کې يې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه دېرشم لوست

# بشري حقونه

**موخې:**

- زده کوونکي دې د بشري حقونو له مفهوم سره څه نا څه اشنا شي.
- زده کوونکي دې خپل او د نورو حقونه یو له بله څخه توپیر کړای شي.
- زده کوونکي دې د بشري حقونو درناوی وکړي.

**له نوو لغتونو او اصطلاحګانو سره اشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| درناوی | احترام |
| تمیز | فرق او بېلول |
| خصوصیات | ځانګړنې |
| جوخت | پیوست، یوځای |
| سوغات | تحفه |

۱- بشري حقونه څه شی دي؟

۲- د بشري حقونو ځانګړنې په څه کې دي؟

بشري حقونه له ټولو هغو حقونو څخه عبارت دي چې په انسان پورې د هغه د انسانیت په خاطر اړه پیدا کوي.

د بشري حقونو قانون د استوګنې، ژبې، مذهب، قوم او نژاد په پام کې له نېولو پرته د یو انسان حقونه خوندي کوي او ساتي یې.

که د بشریت د پیدایښت له نظره ورته وګورو ټول انسانان آزاد نړۍ ته راغلي او مساوي او برابر حقونه لري. انسان له حقونو او حقونه له انسان پرته اصلاً هېڅ معنا نه لري. له دې کبله بشري حقونه له انسان سره جوخت منځ ته راغلي دي او د خدای (ج) سوغات دی.

د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو په اعلامیه کې چې یو نړیوال ارزښت لري د نړۍ ټول افراد د بشري حقونو په منلو مکلف ګڼل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په ډلو وویشل شي. وروسته دې د هرې ډلې استازی د لاندې مطلب په اړوند وغږیږي او ښوونکی صاحب دې د دوی نظر اصلاح او بشپړ کړي.

د انسانانو حقونه

**بېلګه ییزې پوښتنې:**

– حق څه شی دی؟

– بشري حقونه کوم دي؟

– آیا د قومي، ژبني، مذهبي او سیمه ییزو اړیکو له مخې کولی شو یو څوک له بل چا څخه ښه او اوچت وشمېرو؟

– انساني حقونه څه وخت منځ ته راغلي دي او چا هغه بشر ته ورکړي دي؟

**له ټولګي څخه د باندې فعالیت:**

د لویانو په مرسته په دې هکله چې تاسې په ټولنه کې څه حقونه لرئ، یو مطلب ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلوېښتم لوست

# یو انسان کوم حقونه لري؟

**موخې:**

- زده کوونکي دې له خپلو او د نورو له حقونو سره څه نا څه اشنا شي.
- زده کوونکي دې د نورو د حقونو درناوی وکړي.

۱- انسان کوم حقونه لري؟

۲- مورږ مسلمانان یو پر بل باندې څه حق لرو؟

**له نوو لغتونو او اصطلاحگانو سره اشنا شئ.**

| | |
|---|---|
| هڅه | سعی ، کوشش |
| دنده | وظیفه |
| سپکې سپورې | بدې، ترخې، نا مناسبه خبـــرې او کنځل |
| ډاگې | پسته رسان |
| | |

د قرآن شریف او د بشري حقونو له نړیوالې اعلامیې سره سم که څه هم د یو انسان حقونه زیات دي خو له دې ســـره ســـره کولای شو د هغو له ډلې څخه په لاندې ډول په ساده او آســـانه توگه یې د یو شمېر یادونه وکړو:

- **مساوات**: د حقونو له پلوه ټول انسانان یو تر بله سره مساوي او برابـــر دي. هېڅـــوک ددې حق نه لري چې د ژبې، مذهب، سیمې، او داسې نورو له مخې یو پر بل باندې ښه وبلل شي. مورږ مسلمانان نه یوازې یو تر بله سره وروڼه یو بلکې یو تر بله سره په خلقت کې برابر هم یو.
- **د ژوندانه حق**: د ژوندانه حق د خدای تعالی (ج) ورکړه ده. ټول انسانان باید د خپل ځان او نورو د ژوند کولو د حق په ساتلو کې هڅه او درناوی وکړي. ځکه دغه زمورږ د ټولـــو انـــساني دنده ده. لکه څرنگه چې خپل ژوند راباندې گران دی د نورو ژوندانه ته هم باید پـــه درنـــه او د قدر په سترگه وگورو او د نورو ژوندانه ته زیان و نه رسوو.
- **د آزادۍ حق**: آزادي او د هر چا د ځان خوندیتوب د هر انسان حق دی چې بایـــد د هغـــې درناوی وکړو. هر هغه څه چې خپل ځان ته یې خوښوو، نورو ته یې هم خوښ کړو او حق نه لرو چې د نورو آزادۍ ته زیان ورسوو.
- **د بیان آزادي**: هر انسان حق لري هغه څه چې غواړي په ژبه یې ووایي خو داسې نه چـــې د نورو په تاوان وي او د نورو حقونه تر پښو لاندې کړي. د بېلگې په توگه مورږ حق نه لرو بل چاته سپکې سپورې ووایو.
- **د کسب او کار د ټاکلو آزادي**: هر څوک حق لري له خپل استعداد او غوښتنې سره ســـم کسب او کار ځانته وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **د مالکیت حق:** هر څوک د مالکیت حق لري او ددې حق لري چې کور، موټر، مځکــه او داسې نور ولري. موږ مسلمانان باید د نورو د ملکیت درناوی وکړو او د بل چا پر مال بانــدې تېری ونه کړو.
- **د زده کړې حق:** هر څوک حق لري چې زده کړه وکړي. په ښوونځیو او پوهنتونونو کــې خپلــو زده کړوته دوام ورکړي.
- **د پاک چاپېریال د لرلو حق:** هرڅوک حق لري چې په یو پاک او صاف چاپېریال کې ژوند وکړي. حکومت باید په دې هکله له خلکو سره مرسته وکړي.
- **د ګرځېدو او مېشته کېدو حق:** هر څوک کولی شي چې پخپل هېــواد کــې پــه آزاد ډول وګرځي او استوګنه غوره کړي. تاسې کولای شئ په افغانستان کې هر چېرې چــې وغــواړئ، ولاړشئ او هر ځای چې وغواړئ واوسېږئ او د نړۍ هر ګوټ ته مسافرت وکړئ.




زده کوونکي دې د ښوونکي صاحب تر نظر لاندې په ډلو ووېشل شي او وروسته دې د هرې ډلې استازی د لاندې موضوعګانو په هکله وغږیږي.

- آیا ډاکټر یا نور دولتي مامورین د دې حق لري چې ستاسې لیک خلاص کړي؟
- آیا سپکې سپورې ویل د بیان آزادي ده؟

**بیلګه ییزې پوښتنې:**

- که چېرې یوه فابریکه د ځنګلو اوبه ناولې کړي، کولی شو د هغې فعالیت بند کړو؟ څرنګه؟
- پولیس څه وخت کولی شي تاسې تلاشي کړي یا مو ولټوي؟
- آیا حکومت ستاسې پاسپورت اخیستی شي؟ ولې؟
- آیا ترافیک ستاسې موټر د تېریدونکو د تېریدو په خاطر درولی شي؟
- د انسان د حقونو نومونه واخلئ.
- آیا د روغتیا وزارت له خوا ګومارل شوي کسان د ناروغۍ د خپرېدو په وخت کې ددې حق لري چې کوچنیان واکسین کړي؟

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library